اراضی

Afghanistan Land Authority

د افغانستان د ځمکو اداره
اداره اراضی افغانستان

# اراضی

ارگان نشراتی اداره اراضی افغانستان
شماره هشتم، عقرب ۱۳۹۷



«جلالتمآب محمد اشرف غنی رئیس جمهور اسلامی افغانستان روند توزیع سند ملکیت به باشنده گان ساحات غیر رسمی شهر های نیلی و بامیان را رسما افتتاح نمود.»




باشنده گان ساحات غیر رسمی شهر نیلی با اهدای لوح سپاس جلالتمآب محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور را به لقب اساس گذار ملکیت مصؤن در افغانستان ستودند.

# در برگ های این شماره


- سخن نخست ........ ۱
- اخبار و رویداد های مهم اراضی ........ ۲
- توزیع سند ملکیت؛ تحقق آرمان های دیرینه ساکنین شهر نیلی ........ ۱۰
- د ملکیت سندونو وېش لړۍ لرغوني بامیان ته وغځېده ........ ۱۳
- مکثی بر اهمیت نقشه برداری در زنده گی امروزی ........ ۱۷
- هرات کې د دولتي ځمکو بانک تازه انکشافات ........ ۱۸
- بررسی روند انتقال زمین های دولتی در جوزجان ........ ۲۰
- د یوې ناوړې پدیدې ریښې مخ په وچېدو دي ........ ۲۲
- ۱۰۱۲ مرکز معلومات، سمع شکایات و مبارزه با غصب زمین ........ ۲۷
- ننګرهار کې د ځمکو سروې او ثبت لړۍ لا پراخه شوې ........ ۳۰
- استرداد اراضی دولتی ؛ گسترش حاکمیت دولت ........ ۳۳
- بلاک‌چېن په سویډن کې ستر انقلاب ........ ۳۵



تحت نظر کمیته بازنگری نشریه های چاپی اراضی

مدیر مسوول: محمد داود تنها

ویراستاران: حشمت ناصری، داود تنها و حمید اسدی

گزارشگران: احمد ضیا انتظار، حمید اسدی، نگینه حفیظی، عدیل قریشی، زلاله زلال، تمنا حلیمی، جواد خسرو و ضمیر ساپی

دیزاینر: محمد نعیم عمر

طبع: مطبعه آزادی

شماره تماس: ۰۲۰۲۹۲۸۰۰۵

ایمیل: media@arazi.gov.af



اراضی

Afghanistan Land Authority

د افغانستان د ځمکو اداره

اداره اراضی افغانستان

**ارگان نشراتی اداره اراضی افغانستان**

**ماهنامه شماره هشتم، عقرب ۱۳۹۷**



آدرس: ناحیه هفتم، طرف شرق قصر دارالامان، کابل افغانستان

ایمیل: info@arazi.gov.af

ویب سایت: www.arazi.gov.af



# سخن نخست

## د ولس پر ګټو ولاړ نوښتونه د اراضۍ لومړيتوب

د افغانستان د ځمکو ادارې له رامنځته کېدو تر دې دمه د هغه سياسي اعتبار له کبله چې په لوړه کچه يې له حکومت څخه ترلاسه کړی، د ملي، پراختيايي، اقتصادي او عام‌المنفعه پروژو د تطبيق په برخه کې د پرمختګ پر لور يو ګام دی.

دغه اداره د بېلابېلو پروژو په تطبيق کې د اساسي ونډې لرلو په لړ کې اوس له بهره افغان راستنېدونکو کډوالو، کورنيو بې ځايه شويو او همدا راز د امنيتي او دفاعي ځواکونو شهيدو منسوبينو کورنيو ته د ځمکې تشخيص، انتخاب او وېش په تړاو د جمهوري رياست عالي مقام **۳۰۵**مې شمېرې فرمان د تطبيق يوه اساسي او مهمه برخه پر غاړه لري.

په تدريجي توګه په افغانستان کې له بهره راستنېدونکو هيوادوالو مېشتېدنه او هغو ته د ژوند قابليت لرونکو کورونو ودانول، د شهيدو امنيتي او دفاعي ځواکونو د منسوبينو کورنيو غړيو او د داخلي بې ځايه شويو مېشتېدنه، د شفاف او عادلانه سيستم له لارې يادو کورنيو ته د ځمکو وېش، د ځمکو انتخاب او تشخيص لپاره د شفاف سيستم را منځته کېدل او د هغې له مخې زيانمنو او مستقحو کورنيو ته لومړيتوب ورکول او له دولتي ځمکو څخه سمه استفاده په ټوله کې د جمهوري رياست عالي مقام **۳۰۵** مې شمېرې فرمان اساسي موخې دي. د دې فرمان په انفاذ سره د **۱۳۸۴**هجری لمريز کال ۱۰۴ مه شمېره فرمان اوس د تطبيق وړ نه دی.

د افغانستان د ځمکو اداره په دې باور ده چې کډوالي په هيواد کې د ننه بېلابېلو اړخونو ته بې زيانونه رسولي او د نورو مخنيوي او همداراز د وضعې ښه‌والي لپاره اړينه ده چې ژر تر ژره هيواد ته د افغان کډوالو د راتګ زمينه برابره شي او ترڅنګ يې کورنيو بې ځايه شويو او د شهيدو امنيتي او دفاعي ځواکونو منسوبينو کورنيو ته هم د قانون په رڼا کې د هغوی حق ترسره شي. دغه اداره ډاډه ده چې د **۳۰۵** شمېرې فرمان تطبيق چې له تېرو فرامينو سره پوره توپير لري، د يادې ستونزې د هوارۍ يوه اساسي او لنډه لار ده.

د افغانستان د ځمکو ادارې که څه هم په تېرو کلونو کې شاوخوا ۱۲۰ زره جريبه ځمکه د راستنېدونکو او همدا راز کورنيو بې ځايه شويو ته د وېش په هدف اړونده ادارې ته لېږدولې ده، خو تر دې دمه د بېلابېلو لاملونو له کبله ټولو غوښتنو او ستونزو ته دوا نه وه، خو له نېکه مرغه دا ځل د ياد فرمان له مخې ټولو هغو ته د حل لارې چارې لټول شوي دي، څو له شته فرصت څخه په پوره او سمه توګه ګټه پورته شي.

د افغانستان د ځمکو اداره د دې فرمان د تطبيق لپاره له شپږو جوړو شويو کمېټو څخه د دوه هغو رياست په غاړه لري چې هر يو د ځمکو د تشخيص او انتخاب او همدا راز د وېش کمېټې په نامه يادېږي چې د دواړو هغو د حکومتدارۍ اسناد هم د ګډ کار په پايله کې بشپړ شوي دي. د افغانستان د ځمکو اداره د يادو دوو کمېټو تر چتر لاندې د معيارونو په پام کې نيولو سره د ځمکې تشخيص، انتخاب او د ځمکو اړوندو ادارو ته د هغه د لېږد مسووليت پر غاړه لري.

# اخبار و رویداد های مهم اراضی

## تفاهمنامه واگذاری زمین دولتی برای استقرار موقت بی جا شده گان ناشی از حوادث طبیعی میان اداره اراضی افغانستان و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید



تفاهمنامه واگذاری زمین دولتی برای استقرار موقت بی جا شده گان ناشی از حوادث طبیعی میان محترم جواد پیکار رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان و محترم سید حسین عالمی بلخی وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان؛ طی مراسمی در مقر وزارت دولت در امور رسیده گی به حوادث به امضا رسید.

در این مراسم ابتدا محترم جواد پیکار رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان نقش این اداره را در راستای تحقق پروژه های عام المنفعه حکومت مهم دانسته، بر اهمیت روند سروی و ثبت زمین های دولتی و رسیده گی به معضل هموطنان بی جا شده از اثر حوادث طبیعی تاکید کرد.

رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان همچنان از دست آورد های این اداره در خصوص سروی و ثبت یک ملیون و چهار صد هزار جریب زمین دولتی در کشور یاد آوری نموده افزود که اداره اراضی افغانستان بر اساس این تفاهمنامه، زمین دولتی مورد نیاز را حسب تقاضای وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به هدف اسکان موقت بیجا شده گان ناشی از حوادث طبیعی در اختیار آن وزارت قرار میدهد.

سپس محترم نجیب آقا فهیم وزیر دولت در امور رسیدگی به حوادث طبیعی؛ امضای این تفاهمنامه را اقدام نیک و بجا خوانده افزود که با تطبیق این تفاهمنامه زمینه مساعدت به موقع و بشر دوستانه کشور های کمک کننده به نیازمندان فراهم می شود.

متعاقباً محترم سید حسین عالمی بلخی وزیر امور مهاجرین وعودت کنند گان، از اقدام اداره اراضی افغانستان در زمینه اظهار سپاس نموده و تحقق این تفاهمنامه را راه حل یک بخش بزرگ مشکلات بیجا شده گان ناشی از حوادث طبیعی خواند.

# د افغانستان د ځمکو اداري اداري غونډه د ښاغلي جواد پیکار په مشرۍ جوړه شوه

په سر کې محترم جواد پیکار په بیلابیلو موضوعاتو لکه اقتصادي، ټولنیزو او پراختیایي برخو کې د افغانستان د ځمکو اداري ونډه حیاتي وبلله او ټینګار یې وکړ چې دغه اداره په هیواد کې د حکومت ټولګټو او لویو ملي پروګرامونو د تطبیق لپاره خورا زیات فرصتونه چمتو کړي دي.

وروسته د افغانستان د ځمکو اداري لوی رئیس د افغانستان د ځمکو اداري او د ښار جوړونې او مسکن وزارت د ادغام په اړه معلومات وړاندې کړل او د کابینې غونډې دغه پرېکړه یې د ځمکوالۍ چارو تنظیم، د ښې حکومتوالۍ، د حکومت د ټولګټو او لویو پروژو د تطبیق او همدارنګه هېوادوالو ته د ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره یو مهم او ستر ګام وباله او ټینګار یې وکړ چې د افغانستان د ځمکو اداره د حکومت له دې پرېکړې په پوره توګه ملاتړ کوي.

همداراز، د غونډې ګډونوالو د افغانستان د ځمکوالۍ نظام د بنسټیز پراختیایي پروګرام (IDPL)، د دولتي ځمکو بانک، د غیر رسمي ښاري سمیو د ثبت پروګرام، د افغانستان د سرحداتو د وضعیت، د المدینې شرکت د کار کړنو، د ټاپې پروژې د تطبیق د څرنګوالي او د دې ادارې د بودجې مصرف په اړه معلومات وړاندې کړل.

محترم جواد پیکار د چارو له ښه پرمختګ څخه خوښي وښوده او ټینګار یې وکړ چې د افغانستان د ځمکوالۍ نظام بنسټیز پراختیایي پروګرام (IDPL) د تطبیق لړۍ چټکه شي، د روان کال تر پایه د دولتي ځمکو بانک له لارې دوه میلیونه جریبه ځمکه سروې شي او د غیر رسمي ښاري سیمو د پروګرام له لارې د ملکیت سندونو وېش لړۍ ګړندۍ شي. همدارنګه د دې ادارې لوی رئیس تخنیکي برخو ته لارښوونه وکړه چې د افغانستان د سرحدونو اوسني وضعیت په اړه یو مفصل رپوټ چمتو کړي او د ځمکو، اوبو او چاپیریال عالي شورا ته یې وړاندې کړي.

د غونډې په پای کې د افغانستان د ځمکو اداري لوی رئیس ښاغلي جواد پیکار د دې ادارې د کارکوونکو له فعالیتونو څخه په منښې وویل اداره د ولس پر ګټو ولاړ پلانونو او پالیسیو تطبیق ته په بشپړه توګه ژمنه ده.



# جلسه هماهنگی به منظور تسریع روند تطبیق پروژه معدن مس عینک لوگر در مقر اداره اراضی افغانستان برگزار شد



جلسه هماهنگی به منظور تسریع روند تطبیق پروژه معدن مس عینک لوگر بریاست محترم جواد پیکار، رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان با اشتراک محترمه نرگس نهان، سرپرست وزارت معادن و پطرولیم و نماینده گان بانک جهانی در مقر اداره اراضی افغانستان برگزار شد.

در این نشست؛ در خصوص مسایلی چون تصفیه و استملاک زمین در قریه های اطراف ساحه معدن مس عینک لوگر، شرایط محیطی شهرک اصحاب بابا برای اسکان مجدد خانوادههای متضرر در اطراف معدن و آغاز زودهنگام روند عملی تحقق پروژه فوق الذکر بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این جلسه محترمه نرگس نهان، سرپرست وزارت معادن و پطرولیم ضمن برشمردن نقش اداره اراضی افغانستان در زمینه سازی و تسریع روند تطبیق پروژه معدن مس عینک و درخواست همکاری از این اداره در حل مشکلات موجود، خاطر نشان ساخت که بسته کمکی به خانوادههای متضرر در قرأ اطراف معدن مس عینک مورد قبول مردم نبوده، از اینرو جلالتمآب رئیس جمهور کشور خواستار بازنگری این موضوع شده است.

بالترتیب، نمایندهگان بانک جهانی نیز تاکید کردند، که شهرک اصحاب بابا برای خانوادههای متضرر با تهدید حوادث طبیعی روبرو است.

سپس محترم جواد پیکار، رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان با اشاره به نقش حیاتی اداره اراضی در تحقق پروژههای اقتصادی و انکشافی دولت، بر همکاری جدی این اداره و زمینه سازی برای تطبیق سریع پروژه معدن مس عینک تاکید کرده، خاطر نشان ساخت که پالیسی دولت ایجاب میکند تا بدیلی برای شهرک یادشده در نظر گرفته شده و از زمین مورد نظر استفاده مناسب دیگر صورت گیرد.

به همین ترتیب محترم پیکار ضمن تاکید بر پرداخت پول اجاره زمین به خانواده های بیجا شده از دو قریه از سوی دولت به عنوان جبران خساره، هدایت داد تا به منظور رسیدهگی به خواستههای مردم در ساحه پروژه معدن مس عینک، گروه تصفیه اعزام و اسناد مردم از طریق ایجاد یک شورا در قریه بررسی گردد.

در ادامه ، تیم بانک زمین دولتی نتایج سروی تخنیکی و اجتماعی ساحه پروژه معدن مس عینک و اطراف آنرا با تشریحات کامل به مجلس ارائه نمود.

در اخیر جلسه، رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان ضمن تاکید بر عزم و همکاری جدی این اداره در خصوص تسریع روند تطبیق پروژه معدن مس عینک خاطر نشان ساخت که موازی ۱۴۰۰ جریب زمین منطقه مغلخیل باید برای اسکان مجدد خانواده های اطراف پروژه معدن مس عینک منحیث گزینه اول در نظر گرفته شود و علاوتاً انستیتیوت آموزشهای تخنیکی به هدف کسب تعلیمات تخنیکی و اشتغالزایی در پروژه فوق الذکر برای مردم محل ایجاد گردد.

# د شورا پروګرام د ملي رهبرۍ کمېټې لومړنۍ ناسته ترسره شوه

د شورا پروګرام د ملي رهبرۍ کمېټې لومړنۍ ناسته د افغانستان د ځمکو ادارې لوی رئیس ښاغلي جواد پیکار، د کور او ښار جوړونې سرپرست وزیر، د کډوالو او بیرته راستنېدونکو وزیر، د سیمه‌ییزو ارګانونو ادارې مشرتابه، جمهوري ریاست، اجرائیه ریاست استازیو او د یو لړ نړیوالو مرستندویه ادارو لکه یو.ان هبیتات، د کډوالو نړیوال سازمان، اروپایي اتحادیې او په افغانستان کې د ډنمارک سفارت د غړیو په ګډون جوړه شوه.

د غونډې په سر کې د ملي رهبرۍ کمېټې (شورا پروګرام) په اړه معلومات ورکړل شو او زیانمنو راستنیدونکو او کورني بې ځایه شویو ته د مناسبو ځمکو وېش او خوندي ملکیتونو برابرولو او د ژوند ښو شرایطو برابرولو په برخه کې د دې دولتي پروژې اهمیت په اړه خبرې وشوې.

ورپسې د افغانستان د ځمکو ادارې لوی رئیس ښاغلي جواد پیکار د شورا پروګرام رامنځته کېدو څخه ستاینه وکړه او وېې ویل چې شورا د ماهیت له اړخه د دولت یو له مهمو پروژو او د ولس پر ګټو ولاړ د پالیسیو تطبیق یو ښه لارښود دی.

د افغانستان د ځمکو ادارې لوی رئیس زیاته کړه چې کډوالو، راستنېدونکو او کورني بې ځایه شویو د ژوند ښه‌والي په برخه کې د جمهوري ریاست عالي مقام **۳۰۵** فرمان ښه او هر اړخیز تطبیق لومړني او اساسي ګامونه دي. ښاغلي پیکار همدا راز وویل چې د افغانستان د ځمکو اداره د یاد فرمان تطبیق په اړه د دولتي ځمکو سروې له لارې یو لړ مهم کارونه لکه په **۲۸** ولایتونو کې یو ملیون او دوه سوه زره جریبه دولتي ځمکې سروې چارې پای ته رسولي دي. د افغانستان د ځمکو ادارې لوی رییس همدا راز زیاته کړه چې د دولتي ځمکو سروې یوه موخه کډوالو، راستنېدونکو او کورني بې ځایه شویو ته د مناسبو ځمکو وېش دی او شورا به د یادو ځمکو لومړنۍ ګټه اخیستونکې وي.

ښاغلي پیکار د خبرو په دوام کې وویل، دغه اداره پلان لري د هیواد په اتو ولایتونو کې چې د کډوالو، راستنېدونکو او کورني بې ځایه شویو تراکم په کې زیات دی، د تخنیکي سروې نورې ډلې هم واستوي، څو د یادو ځمکو د ښې استفادې زمینه برابره شي.

ښاغلي جواد پیکار همدا راز وویل، د شورا پروګرام له لارې له ځمکو د سمې استفادې زمینه برابرېږي او همد راز د کم مصرفه کورونو او د هغه په ودانولو کې د ګټه اخیستونکو ونډه مهمه وبلله.

د افغانستان د ځمکو ادارې لوی رییس ښاغلي جواد پیکار زیاته کړه چې دغه اداره د کډوالو، راستنېدونکو، کورني بې ځایه شویو او زیانمنو کورنیو د ژوند ښه‌والي په هدف د شورا پروګرام تطبیق لپاره په بشپړه توګه ژمنه ده.

د غونډې په پای کې ګډونوالو د دولتي ځمکو بانک او د کډوالو، راستنېدونکو او کورنې بې ځایه شویو په تړاو د **۳۰۵** فرمان عملي کولو او د شورا تطبیق لپاره د افغانستان د ځمکو ادارې هر اړخیزې کړنې او چمتووالی وستایه.



# دومین جلسه کمیته تشخیص و انتخاب زمین دایر شد



دومین جلسه کمیته تشخیص و انتخاب زمین به ریاست محترم جواد پیکار رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان و اشتراک معینان، روسا و نماینده گان ادارات ذیربط در خصوص چگونگی طرزالعمل کمیته تشخیص و انتخاب زمین، طرز العمل بانک زمین دولتی، فورمه ها و چک لست تشخیص و انتخاب زمین بر مبنای مواد مندرج فرمان **۳۰۵** مورخ **۱۳۹۷/۲/۷** مقام عالی ریاست جمهوری اسلامی افغانستان برگزار شد.

در این نشست، محترم جواد پیکار رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان، ضمن تاکید بر تسریع روند کار کمیته و ابراز مسرت از فعالیت های انجام شده ، از اعضای کمیته خواست تا با ارائه نظریات و پیشنهادات مفید و سازنده در غنامندی هرچه بیشتر طرزالعمل ها و فورمه های ترتیب شده در خصوص تشخیص و انتخاب زمین اهتمام ورزند.

سپس طرزالعمل کمیته تشخیص و انتخاب زمین و بالنوبه طرزالعمل بانک زمین دولتی ارائه شد که پس از بحث و مداقه و ایزاد برخی پیشنهادات مورد تایید کمیته قرار گرفت.

به همین سان، فورمه ها ، چک لست معیار ها و شرایط توصیه شده تشخیص زمین مناسب مندرج فرمان و سپس فورم پلان ساحوی و اجتماعی، فورم اقدامات بهسازی زمین و فورم پروپوزل خدمات زیربنایی بالترتیب ارائه شد که پس از بحث تخنیکی و تبادل نظر مورد تایید قرار گرفت.

در اخیر، محترم جواد پیکار رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان ضمن ابراز سپاس از زحمات بی شایبه و جد و جهد صادقانه اعضای کمیته تصریح کرد ، که اسناد حکومتداری تشخیص و انتخاب زمین به زودی به منظور تصویب به کمیته اجرائیه مندرج فرمان ارائه خواهد شد.

# اداره اراضی افغانستان ۳۷۲ جریب زمین دولتی را به ادارات متقاضی دولت در ولایات سمنگان، غزنی، هرات و کندز انتقال داد

اداره اراضی افغانستان با انتقال قطعات سفید زمین دولتی به ادارات متقاضی دولت در مرکز و ولایات کشور، زمینه سهل استفاده مؤثر از زمین را فراهم کرده و از این رهگذر روند عرضه خدمات عام المنفعه از طریق ادارات و نهاد های سکتوری دولت را به مردم سرعت می بخشد. چنانچه این اداره با توزیع و تبادله بیش از ۲۴۳ هزار جریب زمین دولتی؛ فرصت های خوب تحقق پروژه های انکشافی و عام المنفعه را در کشور فراهم کرده است.

از این رقم ۲۲۲ جریب زمین دولتی در سمنگان به منظور احداث حضیره اموات برای شهریان ایبک به وزارت ارشاد، حج و اوقاف، ۱۲۵ جریب زمین دولتی به ریاست عمومی برشنا به منظور احداث سب استیشن های برق در ولسوالی مقر ولایت غزنی و ولسوالی های پشتون زرغون، چشت شریف و اوبه ولایت هرات و ۲۵ جریب زمین دولتی به هدف اعمار شفاخانه ۵۰ بستر ارتوپیدی در مرکز کندز به وزارت صحت عامه انتقال یافته است.

---

# سمنگانو کې د ۱۰۵۱۵ جریبه دولتي ځمکې سروې چارې پای ته ورسېدې

د افغانستان د ځمکو ادارې د هیواد په شمال سمنګانو ولایت کې ټول ټال ۱۰۵۱۵ جریبه دولتي ځمکې او د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونه تر سروې وروسته ابتدایي ډېټابېس ته رسولي دي.

یاده اندازه دولتي ځمکه د سمنګانو په مرکز ایبک ښار، روی دو آب، حضرت سلطان، فیروز نخچیر، دره صوف بالا او دره صوف پایین ولسوالیو کې سروې شوې دي.

د افغانستان د ځمکو ادارې د روان کال له وروي میاشتې راهیسې تر اوسه پورې د هیواد ۲۸ ولایتونو په کچه څه کم ۱ اعشاریه څلور میلیونه جریبه دولتي ځمکه او د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونه سروې کړي دي

---

# بیش از ۱۰۰ جریب زمین دولتی در ولایت هرات استرداد شد

اداره اراضی افغانستان به دوام استرداد زمین های دولتی، اینبار ۱۴۳ جریب زمین دولتی را به همکاری نهاد های امنیتی در ولسوالی انجیل هرات از چنگ غاصبان زمین بیرون ساخت.

این اداره تا کنون از رقم عمومی بیش از ۱ ملیون جریب زمین مغصوبه دولتی در کشور، بیش از ۵۰۰ هزار جریب زمین دولتی را در مرکز و ولایات استرداد و شرایط استفاده مؤثر از آنرا مساعد گردانیده است.

# اداره اراضی افغانستان ۲۰۷ جریب زمین دولتی را در ولایت کابل استرداد کرد



قطعه زمین یاد شده واقع در قریه ناوه ولسوالی ده سبز کابل، که طی سالیان متمادی تحت تصرف زورمندان محلی بود، با همکاری نهاد های امنیتی استرداد گردید. ادارۀ اراضی افغانستان متعهد به تثبیت و استرداد تمامی زمین های مغصوبه دولتی و جلوگیری از غصب بیشتر آن در کشور است.
تدوین فصل یازدهم و دوازدهم قانون تنظیم امور زمینداری و تسجیل احکام جدید جرم انگاری عمل غصب زمین به منظور تصریح چگونگی برخورد با غاصبان زمین، رسیده گی به معضل زمین های مغصوبه دولتی، ترتیب فهرست غاصبان و ارسال آن به ارگان های عدلی و قضایی، طرح و تدوین ستراتیژی پنج ساله جلوگیری از غصب بیشتر زمین های دولتی و استرداد زمین های مغصوبه دولتی از دست آورد های اداره اراضی افغانستان در راستای مبارزه با پدیده غصب به شمار می رود.

# د زابل پوهنتون لپاره ۳۲۳ جریبه ځمکه انتقالیږي

د افغانستان د ځمکو اداري کابینې غونډې ته د زابل پوهنتون تاسیساتو او احاطې ودانولو لپاره د ۳۲۳ جریبه ځمکې انتقال وړاندیز وکړ چې تر بحث وروسته ومنل شو.
دغه اندازه ځمکه د زابل په مرکز قلات کې پرته ده او تمه ده پرې د پوهنتون اړوند تاسیسات او احاطه جوړه شي.
د یادو تاسیساتو او احاطې په جوړېدو سره به د پوهنتون چاپیریال خوندي او د تاسیساتو د کمښت له اړخه شته ستونزې له منځه ولاړ شي.

## بیش از ۳۱۵ هزار منزل در ساحات غیر رسمی شهری کابل سروی و ثبت گردید

اداره اراضی افغانستان در پی تحقق برنامه ثبت ساحات غیر رسمی شهری در هشت شهر کشور، منجمله کابل؛ کار سروی و ثبت ۳۱۵۳۹۸ منزل را در هفده ناحیه پایتخت تکمیل کرده است.

در شهر کابل از مجموع منازل واقع در ساحات تحت پوشش برنامه؛ تا کنون ۱۹۲۷ منزل سروی و ثبت شده مستحق دریافت سند ملکیت شناخته شده و قرار است با پرداخت پول قیمت سند ملکیت و زمین از منازل فوق الذکر؛ بیش از ۳ ملیون و ۳۸۲ هزار افغانی به خزانه دولت واریز گردد. از این رقم تا کنون بیش از ۸۰۰ هزار افغانی به حساب دولت انتقال شده است.

روند کاری برنامه ثبت ساحات غیر رسمی شهری به شمول کابل، در شهر های هرات، قندهار، فراه، مزار شریف، جلال آباد، بامیان و نیلی مرکز ولایت دایکندی ادامه داشته و قرار است با تطبیق کامل مرحله اول؛ هشت شهر خوست، مهتر لام، چاریکار، غزنی، لشکر گاه، تالقان، زرنج و گردیز تحت پوشش برنامه ملی ثبت ساحات غیر رسمی شهری در آمده و رقم بزرگی از باشنده گان شهر های یاد شده از مزایای لازم این برنامه انکشافی مستفید گردند.

## دایکندي کې د کرنې ترویج لپاره ۱۱ اعشاریه ۵ جریبه ځمکه انتقال شوه

د افغانستان د ځمکو اداري له هغې وروسته چې کابینې دایکندي کې د کرنیزو خدمتونو ترویج واحد ودانولو لپاره د ۱۱ اعشاریه پنځه جریبه ځمکې وړاندیز ومانه، د یاده اندازه ځمکې د انتقال چارې پیل کړې.
دغه شپږ جریبه ځمکه د دایکندي ولایت په شپږو ولسوالیو کې موقعیت لري او ټاکل شوې چې پرې په عصري امکاناتو سمبال د کرنیزو خدمتونو ترویج په موخه یو واحد جوړ شي.
د افغانستان د ځمکو اداره ژمنه ده چې له دولتي ځمکو څخه د سمې استفادې بشپړه زمینه برابره کړي.

## بیش از ۱۷ هزار منزل در ساحات غیر رسمی جلال آباد ثبت شد

اداره اراضی افغانستان تا کنون ۱۷۹۱۲ منزل را در ساحات غیر رسمی شهر جلال آباد سروی و ثبت نموده است.
هدف برنامه ثبت ساحات غیر رسمی شهری، تأمین مصؤنیت ملکیت، رفع مشکلات ناشی از عدم استفاده درست و موثر از زمین، ترویج فرهنگ شهر نشینی، رشد فعالیت های اقتصادی، بلند بردن سطح عواید شاروالی ها و عواید ملی، از میان بردن تبعیض میان ساحات رسمی و غیر رسمی و ارائه خدمات و تسهیلات لازم به باشنده گان ساحات غیر پلانی شهر هاست.
در شهر جلال آباد از مجموع منازل سروی و ثبت شده تا کنون ۳۹۲ ملکیت مستحق دریافت سند ملکیت شناخته شده، که قرار است از این طریق ۴۴۷ هزار افغانی به خزانه دولت واریز گردد. البته از این مقدار پول تا کنون؛ ۱۵۲ هزار افغانی عاید دولت شده است.

# توزیع سند ملکیت؛

## تحقق آرمان های دیرینه ساکنین شهر نیلی



محمد داود تنها

اداره اراضی افغانستان منحیث یگانه مرجع معتبر و با صلاحیت نظام زمینداری و عضو فعال بدنه دولت به نوبه خویش سعی ورزیده؛ زمینه تحقق تعهدات و تطبیق ستراتیژی ها و پالیسی های انکشافی و اقتصادی حکومت وحدت ملی را در عرضه خدمات عام المنفعه به مردم بالخصوص در بخش تنظیم امور زمینداری فراهم نموده و رسالت ملی و تاریخی اش را در راستای رشد و توسعه کشور به منظور نیل به رفاه عامه مردم افغانستان به وجه احسن و شایسته انجام بدهد.

چنانچه به همگان مبرهن است؛ اداره اراضی افغانستان در یک سال اخیر با همت بلند و فکر رسا و اهتمام دستان توانای کارمندان مسلکی و تخنیکی این اداره در بخش های مختلف؛ سعی برای تحقق آرمان های اندیشمندانه و ترقی خواه جلالتمآب محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور را به منظور خدمت صادقانه به ملت شریف افغانستان آغاز کرده و با دستآورد های چشمگیر، برای مردم کشور ارمغان آور رشد اقتصادی و اجتماعی بوده است.

باید خاطر نشان ساخت که یکی از تعهدات حکومت وحدت ملی؛ تأمین مصؤنیت ملکیت هر افغان و حق مالکیت زنان است و اداره اراضی افغانستان به اساس طرح جلالتمآب محمد اشرف غنی بانی اصلی و محرک تغییر بنیادی و نهادی در کشور؛ برنامه ثبت ساحات غیر رسمی شهری را به





اساس ماده ۱۱۲ قانون تنظیم امور زمینداری در سال ۱۳۹۲ ایجاد و پس از منظوری مقام عالی ریاست جمهوری؛ روند عملی آنرا در هشت شهر کابل، هرات، مزار شریف، قندهار، جلال آباد، فراه، بامیان و نیلی آغاز کرد.

بدون شک، کار پیگیر و خستگی ناپذیر اداره اراضی افغانستان با همکاری تخنیکی موسسه یو ان هبیتات سبب شد که در کمتر از یکسال بیش از ۵۳۴ هزار منزل فراتر از هدف تعین شده در شهر های متذکره سروی و ثبت گردیده و همزمان با آن در هریک از شهر های هرات و جلال آباد بالنوبه روند توزیع ۵۰۰ سند ملکیت به ساحات غیر رسمی شهری توسط جلالتمآب رئیس جمهور کشور افتتاح گردید.

اداره اراضی افغانستان به این دستآورد بسنده نکرده؛ نتایج پیشرفت کار سروی و ثبت ساحات غیر رسمی در دو شهر نیلی و بامیان و آماده گی های لازم جهت گشایش پروسه توزیع سند ملکیت به مستحقین شهر های یاد شده را به مقام عالی ریاست جمهوری گزارش داد.

گزارشی که جلالتمآب رئیس جمهور کشور را واداشت تا با اشتیاق ابراز مسرت از تحقق طرح بنیادی اش در خصوص تأمین مصؤنیت ملکیت، با جمعی از مشاورین ریاست جمهوری، برخی اعضای کابینه و محترم جواد پیکار رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان عازم ولایتی گردد، که تا هنوز آنرا زندان جغرافیایی افغانستان می نامند.

بلی! سفری با ارمغان رفاه و آسایش و نویدی از اطمینان برای داشتن زنده گی خوب و سرمایه گذاری مادی و معنوی برای نسل فردا!

سفری به خطه ای که چندین نسل به امید فرو نشاندن عطش داشتن ملکیت مصؤن و تحقق رویا هایشان در این خصوص سر به زیر خاک برده اند، اما اکنون درخشش برق خوشی در چشمان نسل امروز، افق پیش روی نسل فردا را نیز روشن می سازد.

جلالتمآب محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور با تیم معیتی شان در مراسم پر شکوهی که به این مناسبت در شهر نیلی برگزار شده بود، اشتراک نموده و با احساسات گرم نیلیان مسرور از تحقق برنامه ثبت ساحات غیر رسمی شهری استقبال شدند.

در این مراسم؛ ابتدا محترم جواد پیکار رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان؛ ضمن سپاس از حمایت قاطع جلالتمآب رئیس جمهور کشور از روند تحقق برنامه های انکشافی و ملی این اداره و بر شمردن دستآورد های حاصله در راستای تطبیق برنامه متذکره بر مدرنیزه ساختن ساختار های کاری، تطبیق پالیسی های کارا، طرح های سازنده و تحقق برنامه های ستراتیژیک و سرنوشت ساز در مطابقت و همخوانی با اصول پذیرفته شده حکومتداری خوب زمینداری تاکید کرد.

محترم پیکار خاطر نشان ساخت که مردم محوری عمده ترین مزیت برنامه ثبت ساحات غیر رسمی شهری بوده و مرد و زن این دو پیکر مکمل جامعه انسانی از مفاد این برنامه مستفید می شوند. او افزود که با تحقق این برنامه تبعیض میان ساحات رسمی و غیر رسمی شهری و مقوله شهروند درجه اول و شهروند دوم در شهر های زیر چتر این برنامه از بین می رود.

رئیس عمومی اداره اراضی افغانستان تصریح کرد که مبدل شدن ملکیت ها به دارایی و مساعد شدن زمینه برای سرمایه گذاری ها در سکتور ساختمان؛ مؤید ربط مستقیم برنامه ثبت ساحات غیر رسمی شهری با خوان مردم است.

وی؛ ایجاد روزنه امید و آینده نگری برای مردم، باز شدن راه برای به سازی و تنظیم مجدد توسط مثلث مردم، سکتور خصوصی و شاروالی، باز شدن راه در بازار

## توزیع سند ملکیت؛ تحقق آرمان های دیرینه ساکنین شهرنیلی

ملکیت ها برای مثلث دومی مردم، شرکت های ساختمانی و سرمایه گذاران، تاثیر گذاری مثبت روی محیط زیست، امنیت و حفظ الصحه اجتماعی و افزایش عواید شاروالی ها از طریق جمع آوری محصول خدمات شهری را از دیگر پیامد های تطبیق این برنامه انکشافی عنوان کرد.

محترم پیکار سروی و ثبت ۷۰۴۵ منزل در ساحات غیر رسمی سه ناحیه شهر نیلی را نشانه کار خستگی ناپذیر اداره اراضی افغانستان در راستای تطبیق اساسی و زود هنگام تعهد حکومت وحدت ملی در عرصه ایجاد مسکن مصؤن برای مردم دانست.

سپس جلالتمآب محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور با اعطای سند ملکیت به شش تن از مستحقین؛ مرحله نخست روند توزیع ۵۰۰ سند ملکیت به ساحات غیر رسمی شهر نیلی را در میان جوش و هلهلهٔ مردم افتتاح نموده و در نخستین کلام ضمن ابراز امتنان از حمایت آگاهانه و قاطعانه مردم دایکندی از برنامه های ملی و انکشافی حکومت، نیلیان را از حمایت بی دریغ دولت و ارتقای دایکندی از ولایت درجه سوم به درجه دوم، نوید بخشید.

جلالتمآب رهبر حکومت وحدت ملی؛ اصل معارف پروری و سرمایه گذاری بر تحصیلات عالی را رواج حسنه مردم دایکندی خوانده، ضمن بر شمردن نقش بارز باشنده گان آن ولایت در انتخابات ؛ آنانرا به توجه حکومت در خصوص طرح تأمین امنیت، اتصال دایکندی به شبکه برق سراسری و انترنت، رشد و تقویت ادارات عدلی و قضایی، ایجاد مشاوریت ارشد زنان در این ولایت، پلان ایجاد یک مارکیت برای زنان در شهر نیلی در بودجه خاص ولایتی سال ۱۳۹۸، کمک به زنان زراعت پیشه بشارت داد.

جلالتمآب رئیس دولت جمهوری اسلامی افغانستان؛ تعهد ملی برای زدایش فقر در سراسر افغانستان را سیاست تطبیق برنامه های ملی و سیاست حکومت خوانده، بر تسریع روند تحقق برنامه های ملی و تطبیق برنامه های اصلاحی تمامی وزارت ها و دوایر دولتی در خصوص رسیده گی به مشکلات ده ولایت محروم، بالاخص مبدل ساختن زندان جغرافیایی افغانستان (دایکندی) به نقطه وصل تاکید کرد.

باشنده گان ولایت جوان دایکندی، به خصوص نیلیان مسرور از افتتاح روند توزیع سند ملکیت به ساحات غیر رسمی شهری با هیا هو و کف زدن ها دریافت سند ملکیت شانرا از دستان پر مهر جلالتمآب رئیس جمهور به فال نیک گرفته، جناب ایشانرا در خصوص تامین مصئونیت ملکیت های مردم؛ با اعطای لقب «اساس گذار ملکیت مصئون در افغانستان» ستوده؛ از دوام همکاری برای عملی شدن برنامه های انکشافی و اقتصادی دولت در این خطه و حمایت بی دریغ شان از حکومت وحدت ملی وعده دادند.

اداره اراضی افغانستان در نظر دارد پس از توزیع سند ملکیت به ساحات غیر رسمی شهر نیلی و سپس بامیان، روند توزیع ۴۰۰۰ سند ملکیت به شهریان کابل، ۵۰۰ سند ملکیت به شهریان مزار شریف، ۵۰۰ سند ملکیت به شهریان قندهار و ۵۰۰ سند ملکیت به باشنده گان ساحات غیر رسمی شهر فراه را آغاز نماید.

اداره اراضی افغانستان در این برهه حساس تاریخی از اعتماد و حمایت بی دریغ حکومت در تطبیق برنامه های انکشافی و ملی این اداره ابراز سپاس و امتنان نموده و متعهد به سعی بلیغ در طرح و تطبیق تمامی برنامه های سازنده حکومت به منظور بیرون کشیدن افغانستان از بحران است.















# د ملکیت سندونو وېش لړۍ لرغوني باميان ته وغځېده

حمید اسدي

د افغانستان د ځمکو ادارې په هیواد کې د اقتصادي او ټولنیزې ودې او همدا راز چاپېریال ساتنې شعار په لرلو سره تر دې دمه خورا زیاتو ټولګټو پروژو په تطبیق کې مهمه او اساسي ونډه لرلې ده. دې ادارې د ولس پر ګټو ولاړو پروژو په تطبیق کې لکه ځنګه چې د سکتوري ادارو په قطار کې نوموتې هغه ده، په ۱۳۹۲ کال کې د غیررسمي ښاري کورونو د خوندیتوب په تړاو په عملي کارونو لاس پورې کړ.

دې ادارې همدې موخې ته د رسېدو او همدا راز د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ژمنې عملي کېدو په پار د افغانستان د ځمکوالۍ چارو تنظیم قانون ۱۱۲ مې مادې د حکم له مخې د غیررسمي ښاري سیمو پروګرام په نوم د یادو سیمو د غیرپلاني کورونو د خوندیتوب په هدف یوه طرحه د جلالتمآب جمهور رئیس په مشرۍ د اراضۍ، اوبو او چاپېریال عالي شورا ته وړاندې کړه چې د ګډونوالو غوځ اکثریت له خوا ومنل شوه.

د افغانستان د ځمکو اداري ورپسې په ۰۶/۱۰/۱۳۹۶ نېټه د غیررسمي ښاري سیمو د ملکیتونو د تنظیم تر نامه لاندې په څلورو فصلونو او ۲۸ مادو کې شامل یوه مقرره کابینې غونډې ته وړاندې کړه چې دا هم ومنل شوه او په دې توګه د یاد پروګرام عملي چارې په لومړي پړاو کې شاملو اتو ښارونو کې د جمهوري ریاست عالي مقام د ۳۳۴۷ حکم له مخې پیل شوې

د افغانستان د ځمکو اداري په نوښت د غیررسمي سیمو هستوګنو کورونو ثبت اساسي موخې په سیستماتیکه توګه د غیررسمي ښاري سیمو سروې او ثبت، د غیررسمي ښاري سیمو د ملکیتونو خوندیتوب، پر یادو سیمو د پانګونې لپاره د زمینې برابرول او په ثابته سرمایه د یادو ملکیتونو بدلېدل دي.

د افغانستان د ځمکو اداري د دې تولو ترلاسه کولو لپاره په لومړي ګام کې په کابل، کندهار، جلال آباد، مزار شریف، هرات، فراه، بامیانو او نیلي ښارونو کې لاس په کار شو او تر دې دمه یې د یادو اتو ښارونو په کچه ۵۳۴۸۲۶ کورونه سروې او ثبت کړي دي چې له دې څخه ۱۲۳۶۲ کورونه د بامیانو ښار د څلورو ناحیو په ۱۹ ګذرونو کې سروې او ثبت شوي دي.

اوس د هیواد په کچه د سېلاني جاذبې لرونکي بامیانو کې د دې شمېر غیررسمي سیمو سروې او ثبت او همدا راز د مستحق او غیرمستحق په پېژندو سره سروې شویو ملکیتونو ته د ملکیت سندونو وېش وخت راسېدلی دی. د افغانستان د ځمکو اداري دې ولایت ته د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني سفر په ترڅ کې غیررسمي سیمو ملکیتونو ته د سندونو وېش لړي پرانیسته.

د غیررسمي ملکیتونو سندونو وېش په غونډه کې د بامیانو زرګونه تنه اوسېدونکو ګډون درلود او د دې لړۍ د پرانیستې پراخ هرکلی یې وکړ.

لومړی د افغانستان د ځمکو اداري لوی رئیس، ښاغلي جواد پیکار په هیواد کې د غیررسمي سیمو ثبت پروګرام ارزښت په اړه خبرې وکړې او زیاته کړه چې د دې پروګرام په تطبیق سره د هستوګنو کورونو پر خوندیتوب سربېره د بهسازۍ او بیا رغونې پروګرامونو تطبیق لپاره خورا زیات فرصتونه برابرېږي.

ښاغلي پیکار همدا راز زیاته کړه چې د غیررسمي سیمو ثبت پروګرام له لارې د لومړي ځل لپاره د یادو هستوګنو کورونو کره شمېر معلومېږي، یاد کورونه د لومړي ځل لپاره د خوندي کېدو ترڅنګ په ثابته پانګه بدلېږي، دولت به هم په متوازنه توګه ښاري خدمتونه وړاندې کوي، د ژوند چاپېریال وضعه تر اوسني وضعیت ښه کېږي او ورسره د دولتي عوایدو کچه هم لوړېږي.

د افغانستان د ځمکو اداري لوی رئیس د غیررسمي سیمو پروګرام تطبیق په تړاو د جلالتمآب جمهور رئیس له هر اړخیز ملاتړ او لارښوونې څخه په مننې ټینګار وکړ چې د دې پروګرام له لارې د بامیانو ښار ټول غیررسمي کورونو ته د ملکیت سندونه ورکول کېږي.

نوموړي همدا راز په بېلابېلو برخو کې د اراضۍ، اوبو او چاپېریال عالي شورا ونډې ته په اشارې وویل چې د جلالتمآب جمهور رئیس په مشرۍ د یادې شورا له خوا













منل شوي ملي پروګرامونه يو په بل پسې د تطبيق په حال کې دي.

ورپسې جلالتمآب جمهور رئيس محمد اشرف غني د باميانو ښار اته تنه اوسېدونکو ته د ملکيت سندونو په ورکړې سره دغه لړۍ بې په رسمي توګه پرانيسته. د ويلو ده چې په دې غونډه کې د باميانو ښار ۵۰۰ غيررسمي کورونو ته د ملکيت سندونه ورکړل شول.

جلالتمآب جمهور رئيس باميانو کې د غيررسمي سيمو ثبت پروګرام له پرمختګونو څخه خوښي وښوده او په دې ښار کې د ياد پروګرام له لارې د ملکيتونو خدنديتوب پروسې پر دوام ټينګار وکړ.

دا لومړی ځل دی چې د باميانو تاريخي، فرهنګي او توريستي ولايت مرکز غيررسمي ملکيتونه خوندي کيږي او د دولت بېلابېلې اداري هم هغو ته د بهسازۍ او بيارغونې مختلفو پروګرامونو تطبيق په تړاو ځان مسئول بولي.

تمه ده چې پر باميانو سربېره په نږدې راتلونکي کې په لومړي پړاو کې پاتې څلورو نورو ښارونو کې هم د غيررسمي سيمو د ملکيت سندونو وېش لړۍ د افتتاحيه مراسمو له لارې په کابل کې د ۴۰۰۰ سندونو، مزارشريف ښار کې د ۵۰۰ سندونو، قندهار ښار کې د ۵۰۰ سندونو او فراه کې هم د دغه شمېر سندونو په ورکړې سره پيل شي.

د افغانستان د ځمکو اداره پلان لري چې د ۲۰۲۰ کال تر پايه په کابل، مزار شريف، جلال آباد، کندهار، هرات، فراه، باميانو او نيلي ښارونو کې ۵۰۰ زره سندونه ووېشي چې له دې سره د يادو اتو ښارونو ۲ اعشاريه ۵ ميليونه اوسېدونکي په مستقيمه توګه د هغه له ګټو بې برخمن کيږي.

د افغانستان د ځمکو اداره د هېوادوالو له خوا د غيررسمي ښاري سيمو ثبت پروګرام څخه د بې ساري هرکلي له کبله پلان لري چې د ياد پروګرام دويم پړاو مهترلام، غزني، تالقانو، چاريکارو، لنبکرګاه، زرنج، خوست او ګرديز ښارونو ته هم وغځوي.

# مکثی براهمیت نقشه برداری در زنده گی امروزی

عبدالحق عدیل قریشی

نقشه برداری یکی از علوم باستانی بوده و انسان ها در نقاط مختلف جهان از جمله در افغانستان در مقاطع مختلف تاریخ از آن بهره برده اند. درگذشته ها از علم نقشه برداری در امور نظامی، راه های تجارتی و مساعد ساختن زمین برای زراعت، باغداری و شبکه های آبیاری استفاده اعظمی صورت می گرفت.

نقشه برداری و استفاده از آن در پیشبرد بسا امور سیاسی، اقتصادی، نظامی، تخنیکی و سایر عرصه های مرتبط با زنده گی بشر، به گونه مستقیم و غیر مستقیم تاثیر گذار است. در حال حاضر از نقشه به عنوان کلیدی برای گشایش برنامه های مهم و حیاتی در افغانستان و سایر کشور ها استفاده می شود. در عصر کنونی پیشرفت تکنالوژی، نقشه؛ انعکاس دهنده اطلاعات مطمئن با تفصیلات مهم اراضی توأم با ابعاد کوردینات بر روی یک سطح و یا شیت بوده و کاربرد آن در تطبیق موفقانه پروژه ها سهم مؤثر و سازنده دارد.

اولین نقشه افغانستان در سال ۱۸۱۰ میلادی توسط سیاح انگلیسی بنام برنس ترسیم شد. به همین ترتیب برای نخستین بار مناطق شمال افغانستان به مساحت ۱۵۰۰۰۰ کیلومتر مربع توسط کمپنی روسی بنام «تخنو اکسپورت» و قسمت های جنوبی و مرکزی کشور توسط کمپنی امریکایی بنام «فیرچایلد» به مساحت ۵۰۰۰۰۰ کیلومتر مربع عکس برداری هوایی گردید و بر همین مبنی نقشه افغانستان درکشور های روسیه و امریکا تهیه گردید.

نقشه ها نظر به موارد استفاده، انواع مختلف داشته و نقشه های که بیشتر مورد استفاده قرار می گیرند، از نوع نقشه توپوگرافیکی با مقیاس کوچک؛ شامل نقشه های ممالک، قسمت های بزرگ زمین و یا تمام سطح زمین می باشد که اساسی برای پیشبرد امور مهندسی محسوب می شود.

اما نقشه توپوگرافیکی با مقیاس بزرگ؛ عبارت از ارتسام افقی تصویر مشابه و کوچک شده ای حدود تفصیلات (پستی و بلندی) اراضی به روی کاغذ می باشد. معمولاً این نقشه ها دارای مقیاس بزرگ بوده و منحیث اساس در ترتیب سایر نقشه ها مورد استفاده قرار می گیرد. نقشه تصویری؛ نوعی از این نقشه هاست که بر روی تصویر های ماهواره یی با مقیاس های بزرگ و کوچک ترتیب و از آن در مسایل مهندسی کار گرفته می شود.

از نقشه های جیولوجیکی برای برجسته سازی ساحات معدنی و از نقشه هایدروجیولوجیکی برای نمایش آب های زیر زمینی استفاده می شود. در نقشه های نظامی بیشتر نقاط سوق الجیشی چون تپه های ستراتیژیک، تاسیسات مهم مانند پُل ها و راه های بزرگ ترسیم می گردد. در نقشه هایدروگرافیکی بستر ابحار و دریاها و مشخصه های سواحل، عمق و سرعت جریان آب نشان داده می شود.

به همین گونه در نقشه باستان شناسی؛ ساحات تاریخی، چگونگی پیشبرد روند حفریات و ثبت آثار تاریخی و





در نقشه هوانوردی؛ علایم ثابت و ارتفاعات سطح زمین به منظور رهنمایی هواپیما ها نشان داده می شود. در نقشه کشتی رانی؛ تپه های زیر آب با علایم مخصوص دریانوردی به منظور رهیابی درست کشتی رانان ترسیم شده و در نقشه هوا شناسی؛ از گزینه های تخصصی به منظور پیش بینی اوضاع جوی استفاده صورت می گیرد.

در نقشه احصائیوی؛ کمیت نفوس شهر ها، ممالک جهان و انواع احصائیه های مورد نیاز و در نقشه ترانسپورتی؛ سرک ها، شاهراه های موتر رو و خطوط راه آهن بین ولایات و کشور ها نشان داده می شود.


در نقشه شهر ها؛ ماستر پلان های شهری به منظور توسعه شهرها و تطبیق پروژه ها از دید مهندسی نشان داده شده و در نقشه جغرافیایی؛ محدوده ولایات، شهر ها، دریا ها، جهیل ها و سرحدات ممالک ترسیم می گردد، که اکثراً دارای کوردینات جغرافیایی می باشند.

اداره اراضی افغانستان منحیث یگانه مرجع معتبر و با صلاحیت نقشه برداری و تنظیم امور زمینداری در کشور همواره سعی ورزیده، مطابق خواست و نیازمندی نهاد های حکومتی و سکتور خصوصی؛ نقشه های مختلف المقیاس را بعد از طی مراحل قانونی به دسترس آنان قرار دهد.

به همین ترتیب اداره اراضی افغانستان نقش اساسی در تهیه و ترتیب نقشه های محرم با مقیاس خورد به منظور نظرداشت دقت بیشتر در راه اندازی عملیات های نظامی نهاد های امنیتی و دفاعی کشور به هدف سرکوب دشمنان مردم و دولت و تأمین امنیت سراسری در کشور دارد.

این اداره با نظرداشت لایحه وظایف وعرضه خدمات در امر نقشه برداری؛ متعهد به همکاری با تمامی نهاد های متقاضی بوده و خواستار ایفای نقش مهم و اساسی در طرح و تطبیق پروژه های بزرگ زیر بنایی به هدف رشد اقتصاد کشور و رفاه عامه هموطنان است.

اداره اراضی افغانستان از درک تهیه نقشه های مختلف المرام با مقیاس های مختلف و کیفیت عالی به نهاد های متقاضی دولتی و خصوصی؛ سالانه مبالغ هنگفتی را عاید دولت می نماید. اما حرف درخور توجه در این اواخر، به میان آمدن پراگنده گی ها در بخش نقشه برداری به دلیل دسترسی ممکن به امکانات دیجتالی در کشور است که شدیداً نیازمند کنترول و بررسی بوده و اداره اراضی افغانستان منحیث نهاد با صلاحیت در این عرصه مصمم به ایجاد هماهنگی های لازم با ادارات ذیدخل جهت حل این معضل است.





# هرات

## کې د دولتي ځمکو بانک تازه انکشافات

ضمیر ساپی

د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل د دولتي ځمکو بانک د نوي او عصري ټکنالوژۍ په مرسته د دولتي او د دولت تر ولکې لاندې د عامه ملکیتونو ثبت، مناسبې ګټې اخیستنې، د پانګونې جلب او جذب، د کاري فرصتونو برابرول، د ملي عوایدو زیاتوالی او هېوادوالو ته د ښه ژوند برابرولو په موخه جوړ شوی دی.

د دولتي ځمکو او د دولت تر استفادې لاندې د عامه ملکیتونو بانک همداراز، راټول شوي معلومات د جدول او نقشو په څېر په یو ځانګړي دېټابېس کې ځای پر ځای کوي، څو هېوادوال ورته په ډېرې اسانۍ سره د انټرنېټ له لارې لاسرسی پیدا کړي.

د دولتي ځمکو بانک طرحه د افغانستان د ځمکو ادارې یا اراضي له خوا د تېر **۱۳۹۲** هـ ش کال د لړم میاشتې په **۱۵**مه نېټه د ځمکو، اوبو او چاپېریال عالي شورا کې وړاندې او د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني له خوا منظور شوه. دا بانک د افغانستان پلازمېنې کابل سربېره په ولایتونو کې هم د دولتي او د دولت تر ولکې لاندې د عامه ملکیتونو کره معلومات او نقشې ثبتوي، څو په مرسته یې د افغانستان د

ځمکو دقیق ارقام جوت شي.
د دولتي ځمکو بانک طرحه، د ځمکوالۍ معلوماتو جامع سېستم دی چې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون د ۱۱مې او ۱۲مې مادو پر بنسټ هېوادوالو ته د اړتیا وړ او شفاف خدمات وړاندې کوي او د دې ترڅنګ یې په هېواد کې د ځمکو ملي پالیسي، د صنعتي پروژو او نورو لویو بنسټیزو پروژو د پلي کېدو لپاره ښه فرصت هم برابر کړی دی.
د یو مسلکي ټیم په مرسته د دولتي ځمکو بانک د سروې او ثبت چارې د افغانستان د ځمکو ادارې په نوښت د هېواد په تاریخ کې په لومړي ځل د روان ۱۳۹۷ هجري شمسي کال د وري میاشتې له اتمې نېټې را پدېخوا په ۲۸ ولایتونو کې پیل شوې دي.
د افغانستان د ۲۸ ولایتونو په منځ کې یو یې هم هرات ولایت دی چې د دولتي ځمکو د سروې او ثبت چارې په کې په ډېرې چټکۍ سره رواني دي چې تر دې دمه یې د مسلکي او مجرب ټیم په مرسته په ټول هېواد کې د افغانستان لویه برخه ځمکه سروې او راجستر کړې ده.
لکه د افغانستان د نورو ولایتونو په څېر هرات هم یو له هغو ولایاتو څخه دی چې په کې تر ډېره دولتي ځمکې او د دولت تر استفادې لاندې د عامه ملکیتونو څرګند ارقام او سروې نه وه معلومه، خو د افغانستان د ځمکو ادارې د وروستیو بې‌سارو هڅو په پایله کې په دې وتوانېدله چې د دولتي ځمکو بانک له لارې په هرات ولایت کې ټولټال ۸۵۴۸۸ جریبه ځمکه سروې او ثبت کړي.
همداراز، د هرات ولایت په مرکز کې تر دې دمه په څلورو قطعو کې ۳۲۵۰ جریبه ځمکه سروې شوې ده، د انجیل ولسوالۍ په نهو قطعو کې ۳۰۳۱ جریبه، د زنده جان ولسوالۍ په دیارلس قطعو کې ۷۳۹۹۵ جریبه، د کروخ ولسوالۍ په څلورو قطعو کې ۳۵۲۳ جریبه او د ګذرې ولسوالۍ په ۴ قطعو کې ۱۲۴۲ جریبه ځکه سروې او راجستر شوې ده.
له پورته ۳۴ ذکر شویو قطعو له جملې ۱۳ هغه یې د دولتي تاسیساتو تر استفادې لاندې دي او پاتې ۲۱ یې سپیني دي چې تر دې دمه پرې هېڅ دولتي تاسیسات نه دي جوړ شوي.
د افغانستان د ځمکو ادارې د «دولتي ځمکو بانک یا State Land Bank» د طرحې د پلي کېدو په لړ کې له پیله تر دې دمه د افغانستان په ۲۸ ولایتونو کې شاوخوا ۱۴۰۰ زره جریبه ځمکه د سروې ترڅنګ ابتدایي ډېټابېس ته هم داخل کړې ده.
د افغانستان د ځمکو اداره په پام کې لري چې د روان هجري شمسي کال تر پایه دوه مېلیونه جریبه دولتي او د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونه سروې او ثبت کړي او راټول شوي ارقام یې یو ځانګړي عصري ډېټابېس ته دننه کړي.
د افغانستان د ځمکو اداراه همداراز ژمنه ده چې د ۲۸ ولایتونو د سروې تر بشپړېدو وروسته دا لړۍ پاتې شپږو نورو ولایتونو ته هم وغځوي.
سر بېره پر دې چې د دولتي او د دولت تر استفادې لاندې د ځمکو بانک له غصب څخه مخنیوی کوي، همداراز د بېرته راستنېدونکیو کډوالو، کورنیو بې‌ځایه شویو، د شهیدو سرتېرو کورنیو، کوچیانو او نورو مستحقینو ته هم د یو لړ قوانینو له مخې په خپل وار سره دولتي ځمکې په شفاف او عادلانه ډول وېشي.



# بررسی روند انتقال زمین های دولتی در جوزجان

نگینه حفیظی

جوزجان با مساحت ۱۴۶۲۰ کیلومتر مربع یکی از ولایات درجه دوم در زون شمال واقع در **۵۵۵** کیلومتری کابل؛ شرقاً با ولایت بلخ، غرباً با فاریاب و جنوباً با سرپل و شمالاً با ترکمنستان همسرحد است. این ولایت غنی از منابع گاز از حیث موقعیت جغرافیایی در عرض البلد (**۳۶,۲۲۵**) درجه و طول البلد (**۶۵,۷۵۲**) درجه قرار دارد.

آقچه،خانقاه،خُم‌آب، خِواجه دوکوه، دَرزاب، قَرقین، قوش‌تپه، مَردیان، مِنگَجِک از ولسوالی های این ولایت است. ارتفاع شهر شبرغان مرکز جوزجان از سطح بحر (۳۸۰) متر بوده و بلند ترین نقطه این ولایت از سطح بحر ولسوالی درزآب با داشتن (۱۱۷۰) متر ارتفاع می باشد. ولسوالی خم آب با داشتن (۲۵۳) متر ارتفاع، پایین ترین نقطه این ولایت از سطح بحر محسوب می شود.

ریاست اراضی جوزجان منحیث واحد دومی اداره اراضی افغانستان در شهر شبرغان، به اساس تشکیل سال **۱۳۹۲** خورشیدی با **۴۳** کارمند مصروف پیشبرد امور محوله می باشد.

اداره اراضی افغانستان منحیث یگانه مرجع معتبر و با صلاحیت نظام زمینداری در کنار کار سروی، ثبت، تصفیه و استرداد زمین‌های مغصوبه‌دولتی و تداوم روند تطبیق برنامه های انکشافی چون برنامه بانک زمین دولتی؛ مسؤلیت انتقال قطعات سفید زمین دولتی را به نهاد های متقاضی دولت در سراسر کشور منجمله در ولایت جوزجان دارد.


بدون شک؛ تنظیم و مدیریت مطلوب و مؤثر امور زمینداری، بستر اصلی پلان گذاری های انکشافی حکومت در گذار از بحران های بزرگ اقتصادی و اجتماعی را آماده ساخته و زمینه برای طرح و تطبیق پروژه های عمرانی و برنامه ریزی های هدفمند توسعوی برای مسکن و شهر سازی، تقویت اقتصاد، آموزش و پرورش، صحت، حفظ و بهبود محیط زیست را فراهم می سازد.

۱اداره اراضی افغانستان سعی می ورزد با مساعد ساختن شرایط بهتر استفاده از زمین های دولتی؛ سطح عرضه خدمات عام المنفعه به مردم را از طریق دوایر دولتی ارتقا بخشد. این اداره پس از دریافت درخواست رسمی نهاد های حکومتی به مقدار مشخصی از زمین دولتی در ولایات، به منظور تطبیق پروژه های عمرانی یا تأسیسات عام المنفعه؛ زمین مورد نیاز را به حساب اداره متقاضی انتقال می دهد.

با انتقال زمین دولتی به ادارات سکتوری؛ فرصت های بهتر تطبیق پروژه های انکشافی، اقتصادی و زیربنایی در کشور مساعد شده و در روند کار ادارت دولتی به منظور عرضه خدمت به مردم، پیشرفت های چشمگیری رونما می گردد.

اداره اراضی افغانستان از سال **۱۳۹۲** تا کنون، بیش از **۷۵۲** جریب زمین دولتی را بنابر درخواست رسمی نهاد های دولتی در ولایت جوزجان انتقال داده است. از این رقم؛ موازی **۵** جریب زمین دولتی به منظور اعمار آمریت انتخابات به ریاست مستقل انتخابات، موازی **۵۹۸،۵۰** جریب زمین دولتی به هدف تطبیق پلان تفصیلی شهرک شاه مشرب به اداره مستقل ارگانهای محلی، **۳** جریب زمین برای اعمار مرکز تربیت اطفال به وزارت عدلیه و موازی **۵۰** جریب زمین دولتی به هدف اعمار دو سب استیشن برق به وزارت انرژی و آب انتقال یافته است.







# د یوې ناوړې پدیدې ریښې مخ په وچېدو دي

حمید اسدي

په افغانستان کې څلوېښت کلنه جګړه چې له بده مرغه اوس هم په درز روانه ده، د ژوند او ټولنې د وروسته پاتې کېدو لامل ګرځېدلې دی. پر دې سربېره دغه بدبخته او خونړۍ جګړه چې اوس هم شغلې لري، د هیواد په کچه بې ډېرې ناوړې پدیدې زېږولې دي چې یو هغه د دولتي ځمکو غصب ده.

له بده مرغه دغه ناوړه پدیده څه باندې اولس کاله مخکې زور واخیست او د هیواد په ګوټ ګوټ کې د دولتي ځمکو یوه لویه برخه د بې رحمه غاصبینو له خوا غصب شوه. د دغو کلونو په اوږدو کې دومره ځمکې غصب شوې چې ان د هیواد په کچه د انکشاف متوازنه او ګړندۍ پروسه بې ټکنۍ کړه. د غصب دغه روانه لړۍ تر شاوخوا شپږو کلو مخکې په خورا ځوږ روانه وه، خو اوس داسې نه ده.

که څه هم په لومړیو کې د غصب پر وړاندې مبارزه موجوده وه، خو د ۱۳۹۲ لمریز کال د جوزا په شپږمه نېټه هغه مهال چې د افغانستان د ځمکو اداره یو خپلواک بودجوي واحد په توګه وپېژندل شوه، دغه مبارزه رنګ راوړ، په بله معنا د غصب پر وړاندې د مبارزې نوی فصل پرانیستل شو چې له ځمکو د سمې استفادې او همدا راز د ځمکوالۍ چارو تنظیم داسې پیلامه وه چې مثبتې پایلې یې محسوسې دي.

د افغانستان د ځمکو ادارې ه دې تړاو د هڅو او نه ستړې کیدونکو هلو ځلو او زیار٠ونو په پایله کې څه باندې ۵۰۰ زره جریبه دولتي ځمکه د غصب له حالته ایستې او تر هغې



مهمه بیا دا چې له هغو د سمې او معقولې استفادې بشپړه زمینه بې هم برابره کړې ده. دغه اندازه دولتي ځمکې د ټول هیواد په کچه استرداد شوي دي. هلمند یو له دغو ولایتونو څخه دی چې د جګړې تاوده مورچلو په لړلو او ناآرامیو شتهوالي سره سره په دې برخه کې د یوې سترې لاس ته راوړنې شاهد دی.

په دې ولایت کې یوازې د روان لمریز کال په لومړۍ نیمایي کې شاوخوا اوو زره جریبه غصب شوې دولتي ځمکه د غاصبینو له منګولو خلاصه شوې چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

- د هلمند ولایت د ګرمسېر ولسوالۍ په شمالان کلي کې **۵۲۴۲** جریبه دولتي ځمکه چې له کلونو راهیسې د څو تنو غاصبینو له خوا تر شخصي ګټې لاندې وه، په **۳/۳/۱۳۹۷** نېټه د غصب له حالته وایستل شوه او په تړاو یې پنځه تنه د پوښتنو ګرویږنو په پار عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شوي دي.
- همدا راز د روان لمریز کال په **۱۲/۰۲/۱۳۹۷** نېټه د هلمند مرکز لښکرګاه د شرقي بازار په نامه کلي کې **۳۲** جریبه ځمکه چې د کلونو لپاره د غاصبینو په ولکه کې وه، استرداد شوه.
- د مبارزې په دوام کې د ناوې ولسوالۍ په هزار اسپ کلي کې هم په **۱۲/۰۲/۱۳۹۷** نېټه **۲۳۲** جریبه او لس بسوې غصب شوې دولتي ځمکه استرداد شوه او په دې تړاو هم **۷۷** تنه عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شوي دي.
- په همدې توګه په **۱۲/۰۵/۱۳۹۷** نېټه هم د هلمند مرکز لښکرګاه کې **۸** جریبه غصب شوې دولتي ځمکه استرداد شوه.
- د هلمند ناوې ولسوالۍ د عینک سیدآباد په کلي کې هم **۳۳** جریبه غصب شوې دولتي ځمکه د غاصبینو له منګولو خلاصه شوه او له هغې د سمې استفادې زمینه هم برابره شوې ده.
- او په **۲۰/۰۲/۱۳۹۷** نېټه هم د نهر سراج ولسوالۍ د ګرشک نوروز کلي په آب پاشک او سمینار سیمو کې **۷۰۰** جریبه دولتي ځمکه استرداد شوې ده.

په دې توګه د هلمند په کچه د روان کال شپږو میاشتو په

ترڅ کې د شپږو غصب شویو قطعو په استرداد سره ۲۲۵۱ جریبه ځمکه د غاصبینو له منګولو خلاصه شوې ده. د هیواد په سویل لویدیځ داسې ولایت کې چې هره ورځ ترې د ناامنۍ چیغې پورته کیږي او د اور په لمبو کې سوځي، د دې اندازه غصب شویو دولتي ځمکو استرداد یوه بې سارې لاس ته راوړنه بلل کیږي چې ورسره د انکشافي چارو تطبیق پوره زمینه برابریږي.

یاده دې وي چې دا په هلمند کې د غصب پر وړاندې د مبارزې پیل په معنا نه ده، بلکې تر دې د مخه هم زیاته اندازه غصب شوې دولتي ځمکې تر استرداد وروسته بېلابېلو سالمو او ګټورو موخو لپاره کارول شوې دي.

د شمېرو له مخې تر دې مخکې هم ۴۳۵۰ جریبه دولتي ځمکه په هلمند کې استرداد شوې چې له دې شمېرې څخه ۲۰ جریبه په بست قلعه کې، ۳۲ جریبه د لښکرګاه شرقي لښکري سیمه کې او ۴۲۵۸ جریبه هم په مرکز او ولسوالیو کې استرداد شوې دي. په ټولیزه توګه تر دې دمه د هلمند مرکز او ولسوالیو په کچه ۱۱۰۰۱ جریبه غصب شوې دولتي ځمکه د افغانستان د ځمکو ادارې له لورې استرداد شوې او مهمه بیا دا چې په دې تړاو څه باندې ۱۰۰ تنه عدلي او قضایي ارګانونو ته هم ور پېژندل شوي دي.

دا هم د ویلو ده چې ناامني او جګړه لکه څنګه چې پر ځمکه جنت ته ورته ښایسته هلمند څېره بې بدله کړې، د غصب پدیدې پر وړاندې روانه مبارزه یې هم پڅه کړې ده، خو د افغانستان د ځمکو اداره له هرې ممکنه لارې ورته د حل لارې مومي.

هلمند کې د ځمکو استرداد او له هغو د سمې استفادې په برخه کې د ټول افغانستان یوه وړه بېلګه ده چې له شک پرته د افغانستان د ځمکو ادارې مشرتابه هوډ او په لوړه کچه د حکومت ملاتړ ښکاروندوي کوي.

همدا اوس په افغانستان کې شاوخوا یو اعشاریه شپږ میلیونه جریبه دولتي ځمکه تر غصب لاندې ده چې پر وړاندې یې مبارزه لا هم روانه ده او په کې هېڅ راز ځنډ او ځنډ د منلو نه ده. دغه مبارزه به تر هغه مهاله روانه وي چې د دې ناوړې پدیدې ریښې په بشپړه توګه وچې شي.



# جلالتمآب رئیس جمهور به ۵۰۰ خانه در ساحات غیر رسمی شهر نیلی سند ملکیت توزیع نمود










# جلالتمآب رئیس جمهور روند توزیع سند ملکیت در شهر بامیان را رسماً افتتاح نمود











# ۱۰۱۲

## مرکز معلومات، سمع شکایات و مبارزه با غصب زمین

رحیمه هاشمی

اداره اراضی افغانستان به مثابه یگانه مرجع نقشه برداری و تنظیم امور زمینداری در کشور همواره سعی ورزیده تا زمینه تحقق برنامه های بزرگ ملی و انکشافی و تطبیق پروژه های عام المنفعه را در کشور فراهم کند.

این اداره در اوایل سال ۱۳۹۲ خورشیدی به اساس مصوبه شماره (۱۱) شورای وزیران و فرمان شماره (۲۲۰۰) جلالتمآب رئیس جمهور ، منحیث واحد بودجوی مستقل عرض اندام کرد.

اداره اراضی افغانستان با پوشش ۳۶۴ ولسوالی ۳۴ ولایت کشور در راستای نقشه برداری و ثبت زمین های دولتی، تصفیه، استملاک، انتقال و تبادله



زمین های دولتی به ارگان های متقاضی حکومت، حل منازعات املاکی و استرداد زمین های مغصوبه دولتی فعالیت نموده و در مجموع عهده دار کلیه امور تنظیم زمینداری در کشور است.

اداره اراضی افغانستان با طرح و تطبیق برنامه های ملی و ستراتیژیک، نقش حیاتی در فراهم سازی زمینه ها برای پلان گذاری ها و تطبیق پالیسی های اقتصادی و انکشافی دولت داشته ، در کنار این همه، تطبیق موثر قانون حق دسترسی به اطلاعات، پاسخگویی و تامین شفافیت در عرصه های مختلف کاری، از اولویت های مبرم این اداره می باشد.

ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اداره اراضی افغانستان با نظرداشت تعهد به ایجاد سهولت ها به منظور دسترسی هموطنان به اطلاعات، همواره سعی ورزیده با استفاده از مجاری ارتباط داخلی و خارجی به تقویت این روند پرداخته و با استفاده از امکانات، فعالیت های انجام شده و دستآورد های ملموس و مشهود اداره اراضی افغانستان را در سطح کشور؛ وقتاً فوقتاً از طریق ویب سایت، شبکه های اجتماعی فیس بوک، انستاگرام و فلکر، هفته نامه و مجله ماهوار اراضی و رسانه های همگانی به اطلاع دولت و مردم افغانستان رساند.

علاوه بر این؛ اداره اراضی افغانستان در یک اقدام بی سابقه سعی ورزید با نظرداشت استفاده از تکنالوژی معاصر و طرح ریزی ایجاد «کال سنتر» یا مرکز معلومات زمینداری، سمع شکایات، مبارزه با فساد و جلوگیری از غصب زمین راه رسیده گی به مشکلات مردم در عرصه زمینداری را کوتاه تر سازد. این اداره به منظور تحقق عملی این گزینه؛ طرح یاد شده را به عنوان پل ارتباطی میان مردم و اداره اراضی افغانستان، در راستای تأمین حق دسترسی به اطلاعات و بلند بردن سطح آگهی مردم از کارکرد های این نهاد خدمت گذار؛ به هشتمین جلسه شورای عالی اراضی، آب و محیط زیست ارائه نمود که مورد تأیید اعضای شورا و منظوری جلالتمآب رئیس جمهور کشور قرار گرفت.

به این ترتیب؛ ۱۰۱۲ یا مرکز معلومات، سمع شکایات و مبارزه با غصب زمین برای نخستین بار در تشکیل اداره اراضی افغانستان، با کسب جواز از طریق وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، اساس گذاشته شد.

قرار است در اندک زمان با افتتاح زود هنگام خط اتصالی، ۱۰۱۲ اداره اراضی افغانستان، هموطنان گرامی با برقراری تماس تلفونی از هر گوشه و کنار کشور، معلومات مورد نیاز شانرا در عرصه زمینداری دریافت و شکایات خویش را در این خصوص با اداره اراضی افغانستان شریک سازند.

۱۰۱۲ یا خط اتصال مردم با اداره اراضی افغانستان؛ آسان ترین راه تأمین ارتباط با اتباع کشور در راستای نشر معلومات




جامع و ارزنده، جلوگیری از فساد اداری و غصب زمین های دولتی، ایجاد و تقویت فضای اعتماد و باور میان مردم و حکومت افغانستان است.

مرکز معلومات ۱۰۱۲ تحت ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اداره اراضی افغانستان با داشتن ۹ کارمند شامل ۵ زن و ۴ مرد پس از افتتاح زود هنگام همه روزه به لسان های دری و پشتو به پرسش های مردم در عرصه مشکلات آنان در امور زمینداری، پاسخ داده و هموطنان عزیز از این طریق می توانند با سهولت تمام اطلاعات مورد نیاز شانرا در خصوص مسایل زمینداری در کشور حاصل و شکایات و معلومات خویش را در مورد غصب زمین و تصرفات غیر قانونی ملکیت های دولتی در مرکز و ولایات با نظرداشت محرم بودن هویت شان با اداره اراضی افغانستان شریک ساخته و مشوره های حقوقی لازم را در امور زمینداری دریافت نمایند.

این مرکز طور متداوم از شنبه تا چهار شنبه از ساعت ۸ صبح تا ۴ عصر فعال بوده، هموطنان می توانند از طریق تمامی شبکه های مخابراتی در کشور برای کسب معلومات و پیگیری مشکلات خویش به تماس شوند. هکذا ریاست اطلاعات و ارتباط عامه ادارهٔ اراضی افغانستان با استفاده از تکنالوژی روز؛ ایمیل آدرس: 1012@arazi.gov.af را برای دریافت درخواست معلومات و شکایات هموطنان در خصوص مسایل زمینداری ایجاد نموده است. هموطنان گرامی با ارسال یک پیام حاوی پرسش و ابراز شکایت می توانند با این اداره در تماس شده و به زود ترین وقت ممکن؛ معلومات مورد نیاز و پاسخ به شکایات شانرا دریافت کنند.

ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اداره اراضی افغانستان ضمن تعهد به کار خستگی ناپذیر در این راستا، افتخار دارد که از این رهگذر با ارائه معلومات دقیق، موثق و زود هنگام، فرصت خدمت گذاری بیشتر و بهتر به مردم افغانستان را می یابد.





# ننګرهار کې د ځمکو سروې او ثبت لړۍ لا پراخه شوې

ضمیر ساپی

له سلګونه کلونو راپدېخوا په افغانستان کې د دولتي ځمکو او د دولت تر ولکې لاندې د عامه ملکیتونو سروې او ثبت یو له جدي ستونزو څخه ګڼل کېده، ځکه په دې هېواد کې دولتي ځمکو او د دولت تر ولکې لاندې د عامه ملکیتونو کره معلومات موجود نه و او نه هم په دې برخه کې داسې اقدامات تر سره شوې وو چې دې ستونزې ته د حل مناسبه لاره پیدا کړي.

خو همدې اړتیا ته په کتو د افغانستان د ځمکو ادارې په نوښت د هېواد په تاریخ کې په لومړي ځل د افغانستان د ځمکو ادارې د دولتي ځمکو بانک (State Land Bank) طرحه جوړه کړه چې د تېر ۱۳۹۲ هـ ش کال د لړم میاشتې په ۱۵مه نېټه د ځمکو، اوبو او چاپېریال عالی شورا کې وړاندې شوه او د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني له خوا تائید او منظور شوه چې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون د ۱۱مې او ۱۲مې مادو پر بنسټ هېوادوالو ته خدمات وړاندې کوي.

د دولتي ځمکو بانک د نوې او عصري ټکنالوژۍ په مرسته د دولتي او د دولت

تر ولکې لاندې د عامه ملکیتونو ثبت، له دې ملکیتونو څخه د مناسبې ګټې اخیستنې، د پانګونې جلب او جذب، د کاري فرصتونو برابرول، د ملي عوایدو زیاتوالی او هېوادوالو ته د ښه ژوند برابرولو په موخه جوړ شوی دی.

د افغانستان د ځمکو ادارې د ارقامو له مخې په افغانستان کې ټولټال **۶۵** میلیونه هېکتاره ځمکه ده چې له جملې یې **۷.۸** میلیونه هېکتاره زراعتي، **۳۰** میلیونه هېکتاره څرځایونه، **۸** میلیونه هېکتاره دښتي، **۱.۹** میلیونه هېکتاره ځنګلي، او پاتې **۱۷.۵** میلیونه هېکتاره ځمکه غرونو او سیندونو پوښلې ده.

د **۱۹۶۵** او **۱۹۷۸** میلادي کلونو ترمنځ په ټول افغانستان کې یوازې **۳۴** سلنه ځمکه سروې شوې وه چې نږدې **۳۰** سلنه یې په ښاري سیمو کې او شاوخوا **۱۰** فیصده یې په کلیوالي سیمو کې د وخت حکومتونو د ځمکو د ادارو له لورې ثبت او راجستر شوې وه او ویل کېږي چې لا هم په افغانستان کې ډېر شمېر ځمکه له راجستر څخه پاتې ده.

خو د افغانستان د ځمکو اداره د یو جامع طرزالعمل له لارې په پام کې لري چې په راتلونکو څو کلونو کې په سېستماتیک ډول د ځمکو ثبت او راجستر چارې په ټول افغانستان کې بشپړې کړي چې او سمهال یې د ځمکو د ثبت لړۍ یې په **۲۸** ولایتونو کې پیل کړې ده.

د افغانستان د ځمکو ادارې د دې تاریخي نوښت په رامنځ ته کولو سره د دولتي ځمکو بانک د تخنیکي او مجرب ټیم له لورې لکه د نورو ولایتونو په څېر په ننګرهار ولایت کې هم دولتي ځمکو او د دولت تر استفادې لاندې لویه برخه عامه ملکیتونه ثبت او راجستر کړې دي.

د افغانستان د ځمکو ادارې د ځمکو د سروې له پیله تر دې دمه په ننګرهار ولایت کې ټولټال **۴۱۴۱۲** جریبه ځمکه سروې او راجستر کړې ده چې د بهسودو ولسوالۍ په **۸** قطعو کې تر دې دمه **۸۷۷۸** جریبه ځمکه ثبت شوې ده.

همداراز، د رودات ولسوالۍ په اته قطعو کې **۱۴۴۰۴** جریبه، د سره رود ولسوالۍ په درې قطعو کې **۱۲۱۸** جریبه، د ښېوې ولسوالۍ په یوه قطعه کې **۸۳۵** جریبه، د کامې ولسوالۍ په **۹** قطعو کې **۱۲۵۴۳** جریبه، د کوټ ولسوالۍ په یوه






قطعه کې **۳۰۹۲** جریبه او د مرکز په درې قطعو کې **۵۵** جریبه ځمکه سروې کړې ده.

د دې ترڅنګ د دولتي ځمکو بانک مسلکي ټیم د جلال اباد ښار په لومړۍ، دریمې، څلورمې، پنځمې او اوومې ناحیو کې هم په ترتیب سره **۴۰** جریبه، **۵۲** جریبه، **۱۷** جریبه، **۳۶** جریبه او **۳۳۰** جریبه ځمکه سروې کړې ده.

د پورته ذکر شویو قطعو ټول تعداد **۴۴** ته رسیږي چې **۱۳** یې د دولت تر استفادې لاندې دي او پر پاتې **۳۱** قطعو تر دې دمه دولتي تاسیسات نه دي جوړ شوي او سپینې پاتې دي.

په افغانستان کې له څو لسیزو راهیسې د ځمکو سروې، ثبت، پېژندنې، لېږد یا انتقال، نقشې اخیستنې او د ځمکو اړوندې نورې چارې له یو لړ خنډونو سره مخ وې، خو له نېکه مرغه په وروستیو څو کلونو کې د افغانستان د ځمکو ادارې دې ستونزو ته د رسېدو لپاره په سیستماټیک ډول چټک ګامونه پورته کړي چې په دې برخه کې یې مخینه بې ساري ده.

د افغانستان د ځمکو ادارې همداراز د دې بانک د معلوماتو د مدیریت جامع سېستم رامنځ ته کړی چې په مرسته یې له دولتي ځمکو او د دولت تر ولکې لاندې له عامه ملکیتونو څخه مناسبه ګټه پورته شي او په هېواد کې د کاري فرصتونو د رامنځ ته کېدو ترڅنګ د پانګونې جلب او جذب او د ملي پروژو پلي کېدو ښه زمینه برابره شي.



# استرداد اراضی دولتی ؛

## گسترش حاکمیت دولت

احمد ضیا انتظار

گسترش فرهنگ غصب زمین های دولتی و عامه از سوی زورمندان، محلی مسؤلین و متنفذین فرصت طلب دولتی در سه دهه اخیر در مرکز و ولایات کشور؛ مانع بزرگی فرا راه تطبیق برنامه های انکشافی واقتصادی دولت بوده و تاثیرات منفی آن در عرصه های مختلف اقتصادی، اجتماعی وسیاسی در جامعه افغانی کاملاً محسوس است.

اداره اراضی افغانستان به تأسی از پالیسی دولت جمهوری اسلامی افغانستان در راستای مبارزه با فرهنگ غصب و ریشه کن ساختن این پدیده شوم و برداشتن موانع سد راه نظام نوین زمینداری در کشور؛ تثبیت و استرداد زمین های مغصوبه دولتی را یکی از اولویت های کاری اش قرار داده است.

چنانچه در این راستا از مجموع رقم بلند بیش از یک ملیون جریب زمین مغصوبه دولتی در سطح کشور، تا کنون بیش از **۵۰۰** هزار جریب زمین دولتی استرداد و تا حد زیادی زمینه استفاده موثر از آن فراهم شده است. بدیهی است که روند استرداد زمین های دولتی و عامه در تمامی ولایات کشور جریان داشته و مردم از این پروسه با گرمی زاید الوصفی استقبال می کنند.

بادغیس با آنکه از ولایات دور افتاده و نسبتاً نا امن در غرب کشور شمرده می شود، اما اداره اراضی افغانستان با حمایت قوی دولت و همکاری بی دریغ نهاد های امنیتی این ولایت در یک اقدام بی پیشینه؛ **۵۲۰۲۱** جریب زمین مغصوبه دولتی از نوع علفچر را که از چند سال به این سو در تصرف غاصبان زمین بود، استرداد و ضمناً فهرست اسامی **۳۱۷** غاصب زمین دولتی این ولایت را به نهاد های عدلی و قضایی فرستاده است. رقم یاد شده اراضی استرداد شده شامل **۵۰** هزار جریب زمین دولتی در ولسوالی مقر، **۲** هزار جریب زمین دولتی در ولسوالی قلعه نو و متباقی در سایر ولسوالی های این ولایت است.

گسترش فرهنگ غصب زمین های دولتی و عامه از سوی زورمندان، محلی مسؤلین و متنفذین فرصت طلب دولتی در سه دهه اخیر در مرکز و ولایات کشور؛ مانع بزرگی فرا راه تطبیق برنامه های انکشافی واقتصادی دولت بوده و تاثیرات منفی آن در عرصه های مختلف اقتصادی، اجتماعی وسیاسی در جامعه افغانی کاملاً محسوس است.

اداره اراضی افغانستان به تأسی از پالیسی دولت جمهوری اسلامی افغانستان در راستای مبارزه با فرهنگ غصب و ریشه کن ساختن این پدیده شوم و برداشتن موانع سد راه نظام نوین زمینداری در کشور؛ تثبیت و استرداد زمین های مغصوبه دولتی را یکی از اولویت های کاری اش قرار داده است.

چنانچه در این راستا از مجموع رقم بلند بیش از یک ملیون جریب زمین مغصوبه دولتی در سطح کشور، تا کنون بیش از **۵۰۰** هزار جریب زمین دولتی استرداد و تا حد زیادی زمینه استفاده موثر از آن فراهم شده است. بدیهی است که روند استرداد زمین های دولتی و عامه در تمامی ولایات کشور جریان داشته و مردم از این پروسه با گرمی زاید الوصفی استقبال می کنند.

بادغیس با آنکه از ولایات دور افتاده و نسبتاً نا امن در غرب کشور شمرده می شود، اما اداره اراضی افغانستان با حمایت قوی دولت و همکاری بی دریغ نهاد های امنیتی این ولایت در یک اقدام بی پیشینه؛ **۵۲۰۲۱** جریب زمین مغصوبه دولتی از نوع علفچر را که از چند سال به این سو در تصرف غاصبان زمین بود، استرداد و ضمناً فهرست اسامی **۳۱۷** غاصب زمین دولتی این ولایت را به نهاد های عدلی و قضایی فرستاده است. رقم یاد شده اراضی استرداد شده شامل **۵۰** هزار جریب زمین دولتی در ولسوالی مقر، **۲** هزار جریب زمین دولتی در ولسوالی قلعه نو و متباقی در سایر ولسوالی های این ولایت است.











# بلاک چین؟

## په سویډن کې ستر انقلاب

ضمیر ساپی

په نړۍ کې ډېری وخت د ځینو هېوادونو ترمنځ د کره پولو او سرحداتو د نه معلومېدو له کبله شخړې او سترې ستونزې راپورته کېږي. کله دا ستونزې دومره اوج ته ورسېږي چې یو هېواد پر بل د بریدونو تابیا نیسي چې سویډن هم له ډېرو کلونو راپدېخوا له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره د دقیقو سرحداتو د نه معلومېد له کبله لاس او ګریوان و.

سویډن له خپلو ګاونډیو سره دا ستونزه تر ډېره په غرنیو سیمو کې لرله، خو دې هېواد بالاخره د ځمکو او سرحداتو د معلومولو په برخه کې د یوه نوي سېستم چې بلاک چېن (Blockchain) یې بولي، رامنځ ته کړ او د دې نوې ټکنالوژۍ په مرسته یې په وروستیو څو کلونو کې نږدې ۸۰ سلنه خپلې ستونزې حل کړې دي. بلاک چېن په سویډن کې د نوي نسل وروستۍ او یوه تر ټولو تازه ټکنالوژي ده چې د ځمکو په تنظیم، راجستر، نقشې او انځورونو اخېستلو، ډېټا او معلوماتو ذخیره کولو، سروې او نورو برخو کې ستر انقلاب رامنځ ته کړ.

### د نوي سېستم اسانتیاوې

د بلاک چېن ټکنالوژۍ تر جوړېدو وروسته په سویډن کې د ځمکو اړوندو معلوماتو د خوندیتوب ښه سېستم رامنځ ته شوی دی چې

د دې سترې لاسته راوړنې ترڅنګ، پرلیکه یا انلاین قراردادونه او د بانکي معاملو د لېږد رالېږد په برخه کې یې هم خدمات د پخوا په پرتله څو چنده اسانه شوي دي.
همداراز، وروسته تر هغې چې د ۲۰۱۲ مېلادي کال په جولای میاشت کې په سویډن کې د دې هېواد د ځمکو د ثبت ادارې (Lantmateriet) له لورې د بلاک‌چېن په نوم نوی سېستم رامنځ ته شو، د ځمکو د ثبت په برخه کې یې دې ادارې ته خورا اسانتیاوې رامنځ ته کړې.
په ورته وخت کې د دې نوې ټکنالوژۍ په مرسته هم‌مهاله د ځمکو د انتقال، نقشې اخېستلو او د دې هېواد د ځمکو د بنسټیزو او مهمو سیمو لکه بانکونو، سرحداتو، لویې لارو او د دولتي او شخصي ځمکو، د تثبیت او سروې برخه هم غني شوه.
که څه هم په سویډن کې دا سېستم نوی او ازمایښتي مرحله کې دی، خو په ډېره کمه موده کې یې د ځمکو په برخه کې بې‌ساري بنسټیز خدمات وړاندې کړل. تر دې سېستم مخکې به د ځمکو انتقال یا لېږد د کاغذي پروسو په وسیله طی کېده چې له شپږو تر نهو میاشتو وخت ته به اړتیا پېښېدله، خو د بلاک‌چېن په رامنځ ته کېدو سره اوس د وخت ضایع کېدو، اوږدې پروسې او د انساني تېروتنو ۸۰ سلنه مخنیوی شوی دی او کارونه ورسره هم‌مهال چټک شوي دي.

### د بلاک‌چېن ګټې

سویډن چې وار له مخه د نوې ټکنالوژۍ په کارولو کې مخینه لري، د دې هېواد د ځمکو د ثبت ادارې د معلوماتو له مخې، د بلاک‌چېن تر رامنځ ته کېدو وروسته دا هېواد هر کال د مالیه ورکوونکو ۱۰۰ مېلیون یورو سپما کوي چې په دې برخه کې ورسره هم‌مهاله د بشري قوې فشار راکم شوی دی، د کاغذونو ډېر استعمال نږدې صفر درجې ته رسېدلی او د هر ډول ممکنه فساد په مخنیوي کې خورا اغېزمن تمام شوی دی.
دا اداره همداراز وايي، د بلاک‌چېن په کارولو سره یې په کاري برخه کې څو چنده چټکتیا رامنځته شوې ده او په راتلونکي کې په پام کې لري چې د ځمکو د معاملو دا نوی سېستم؛ بانکونو ته هم وغځوي تر څو د ځمکو د پېر او پلور پرمهال دا وطلبان د برېښنايي سېستم له لارې خپلې معاملې په ډېر اسانه او چټک ډول سره پر مخ یوسي.
د سویډني چارواکو په وینا دا سېستم له اوسني عصر سره سم په نوې ټکنالوژۍ سمبال دی چې په ډېره شفافه توګه د ځمکو د انتقال، سروې، نقشو، او ثبت معلومات ذخیره کوي چې په مرسته یې ټوله نړۍ کې خلک ورته لاسرسی پیدا کولای شي.
د بلاک‌چېن پروژې مسوول ماټس سنبل په وینا که څه هم په پیل کې دې ټکنالوژۍ لرې ستونزې لرلې، خو تر دې دمه یې د ځمکو د ثبت او راجستر په برخه کې د بلاک‌چېن په څېر د باور وړ او شفاف سېستم نه دی لېدلی، ځکه په وینا یې ټولې چارې یې د نوي برېښنايي سېستم په وسیله پر مخ وړل کېږي چې په دې برخه کې دا ډول روڼتیا د ټولو متقاضیانو د باور وړ ګرځېدلې ده.






### نوري نړۍ ته رشد

په دې وروستیو کې د سویډن سربېره د بلاک‌چین ټکنالوژي نوري نړۍ ته هم رشد کړی دی. هندوستان، جیورجیا، هاندوراس او نور هېوادونه هم د ځمکو د معاملو تر څنګ په بانکي سېستم او نورو راکړو ورکړو کې له دې عصري ټکنالوژۍ څخه ګټه اخلي.

د دې ټکنالوژي د تنظیم چارې چې د کروماوې (Chroma Way) په نوم د یوه شخصي شرکت له لورې پرمخ وړل کېږي وايي، د بلاک‌چین د لا پرمختګ او رشد لپاره یې له متشبثینو سره هوکړې کړي تر څو په دې سېستم کې پاتې ستونزې هم په لږه موده کې حل کړي.

د سویډن د ځمکو د ثبت اداره چې د دې ټکنالوژۍ په مرسته یې لومړی پړاو په ۲۰۱۲ مېلادي کال کې بشپړ کړی دی، دویم پړاو یې د بشپړېدو په حال کې دی او همداراز دا اداره تمه لري چې د ۲۰۲۰ مېلادي کال تر پایه په دې هېواد کې د ځمکو اړوندې ټولې چارې د عصري سېستم پر مټ تر سره کړي.

### د بلاک‌چین ستونزې

لکه څنګه چې هره نوې ټکنالوژي له ځان سره اسانتیاوې رامنځته کوي، په څنګ کې ورسره یو لړ ستونزې هم ملې وي. همدا ډول، د بلاک‌چین په نوم نوې سویډني ټکنالوژۍ هم یو لړ ستونزې لري، هغه دا چې په نړۍ کې د دې نوي سېستم متخصصین او مجرب کسان ډېر لږ پیدا کېږي. د بېلګې په توګه په ټول هندوستان کې تر دې دمه یوازې ۳۲ ماهرین له دې عصري سېستم سره بلدتیا لري.

سویډني چارواکي همداراز وايي، مخکې تر دې چې دا پروسه تر ۲۰۲۰ مېلادي کال پورې په ټول هېواد کې په بشپړه توګه عملي کړي، باید د سویډن ټول وګړي د یو ځانګړي سېستم له لارې خپل بریښنایي لاسلیکونه او ګوتې ثبت کړي، تر څو د دې ټکنالوژۍ له ګټو برخمن شي چې په وینا یې دا پروسه هم کلونو مودې ته اړتیا لري.

### افغانستان کوم سېستم کاروي؟

د افغانستان د ځمکو اداري یا اراضي تر رامنځ ته کېدو وروسته هوډ درلود چې د موثق، دقیق او اعتبار لرونکي معلومات پر وخت وړاندې کړي چې د جغرافیايي معلوماتو سېستم GIS (Geographic Information System) جوړول یو له اساسي اړتیاوو څخه شمېرل کېده.

دې اداري د سیاسي، اقتصادي، پراختیایي او ټولنیزې موخو لپاره د د جامع معلوماتي سیستم جوړول، د هېواد د ځمکو د بنسټیز او مهمو سیمو تثبیت او سروې، د دولتي او شخصي ځمکو تشخیص او د ځمکوالۍ په چارو کې د خدماتو وړاندې کولو په موخو د GIS یا د جغرافیايي معلوماتو سیستم ریاست رامنځته کړ.

د GIS سېستم همداراز، د معلوماتو د راټولولو، تحلیل او تجزیې، د جغرافیايي معلوماتو د تشخیص او د ځمکو اطلاعاتو د مدیریت له مهمو برخو څخه ګڼل کېږي چې د دولتي ادارو اړتیاوو ته په کتو له دولتي، عامه او شخصي ځمکو څخه د کوردیناتو او معلوماتو راټولول، هوایي او ماهواره یي انځورونو اخېستل د معلوماتو ذخیره کول، د نقشې اخېستلو په سافټویر کې د جدولونو او نقشو جوړول، د افغانستان په بېلابېلو برخو کې د بدلونونو تر رامنځ‌ته کېدو وروسته د نقشو سمون او تجدید د همدې سېستم په مرسته تر سره کېږي.

# Transfer of 323 Jeribs of State Land for Construction of Zabul University

The Cabinet Meeting, held on October 3, 2018, approved transferring of 323 jeribs of state-owned land for the construction of Zabul University.

The land, situated in Qalat, will be transferred by Afghanistan Land Authority to the relevant entity in Zabul province in near future.

So far, the Afghanistan Land Authority has transferred 243,028 jeribs of state land to the desired state institutions across the country, since 2013.

---

# Over 34,800 Jeribs of State Land Surveyed in Takhar

The Afghanistan Land Authority – ARAZI has recently surveyed 34,867 jeribs of state-owned land and public properties under state institution use in northeast Takhar province.

The surveyed land is situated in Taloqan, the provincial capital, and the collected information had been entered into primary database of the State Land Bank.

In addition to Taloqn, the Afghanistan Land Authority will extand its survey process to the remaining districts of the province.

---

# State Land Bank Survey Continues in Paktika Province

The Afghanistan Land Authority – ARAZI has recently surveyed 9,408 jeribs of state-owned land through the State Land Bank in eastern Paktika province of Afghanistan.

The land is situated in Sharana, the provincial capital, and outskirt of the city of Paktika.

In addition to Sharana, ARAZI plans to extend its survey process to all districts of Paktika province shortly.

# ARAZI Surveyed Over 73,400 Jeribs of State Land in Laghman Province

The Afghanistan Land Authority – ARAZI has surveyed 73,459 jeribs (14,691 hectares) of state-owned land in Laghman province since the beginning of 1397, solar year.

The land is situated in Mihtarlam, the provincial capital, and five other districts of the province.

In order to survey and register state-owned land and public properties under state institution use, the Afghanistan Land Authority has recruited and deployed 123 professional surveyors to 28 provinces of the country.

# ARAZI Transfers 15 Jeribs of State Land in Herat Province

The Afghanistan Land Authority – ARAZI has newly transferred 16 jeribs (3.2 hectares) of state-owned land for construction of a hospital in Herat province.

The land is situated in Enjil district of Herat province has been transferred to the directorate of public health.

Since 2013, ARAZI has managed to transfer more than 249 thousand jeribs of state land to different state institutions in the country.

# The Cabinet Meeting Approves Transfer of 500 jeribs of State Land in Farah Province

H.E Mohammad Ashraf Ghani, the President of Islamic Republic of Afghanistan approved transferring of 500 jeribs (100 hectares) of state land during the cabinet meeting held on October 11, 2018.

The land situated in center of Farah will be transferred for construction of a Park in Farah province.

The Afghanistan Land Authority has accelerated the process of transferring of state-own land to applicant institutions for the smooth implementation of socio-economic and development projects across the country.

# ARAZI Restitutes 20 Jeribs of State-owned Land in Badakhshan Province

The Afghanistan Land Authority – ARAZI has recently restituted 20 jeribs (4 hectares) of state-owned land in Badakhshan province.

The land - situated in Kohistan district of the province - had been grabbed by powerful individuals for past several years.

Since 2013, Afghanistan Land Authority – ARAZI, has successfully restituted over 500,000 (100,000 ha) of state land across Afghanistan.

Land grabbing remains as one of the main challenges towards effective use of state-owned land in Afghanistan and ARAZI attempts to restitute state grabbed land and provides Afghan government entities with an opportunity to utilize state land for development projects.

# ARAZI Transfers 20 Jeribs of State Land for Construction of a Prison in Ghazni

In the cabinet meeting led by H.E the President of Islamic Republic of Afghanistan held on October 03, 2018; has approved transferring of 20 jeribs (4 hectares) of state land for construction of a prison in Ghazni.

The land is situated in the central district of Ghazni province and ARAZI intends to transfer the land to the applicant institution in near future.

In recent years, the Afghanistan Land Authority - ARAZI has managed to transfer more than 247 thousand jeribs of state land to different state institutions for the implementation of socio-economics and development projects in Afghanistan.



# ARAZI Clears Over 1,000 Jeribs of Land in Logar Province



The Afghanistan Land Authority – ARAZI has recently cleared up 1,006 jeribs (201 hectares) of state-owned land for construction of a township in Khoshi district of Logar province of Afghanistan.
The Afghanistan Land Authority as part of its mandate carries out land clearance across Afghanistan aimed at providing state institutions with opportunities to boost implementation of socio-economic and development projects.

# More than 70,000 Houses Registers in Mazar-e-Sharif City

The Afghanistan Land Authority – ARAZI has registered total 70,398 houses through the Programme for Registration of Urban Informal Settlement (PRUIS) in Maza-e-Sharif, the capital of Balkh province.
The houses situated in 6 police districts of Mazar-e Sharif city.
ARAZI intends to issue occupancy certificates to 500 houses of urban informal areas of the city in first round.
Since the implementation of Programme for Registration of Urban Informal Settlement (PRUIS), ARAZI has managed to survey and register 522 thousand houses in urban informal areas of Kabul, Mazar-e Sharif, Herat, Bamyan, Nili, Farah, Kandahar and Jalalabad cities and so far distributed occupancy certificates to 500 houses in Herat and 500 houses in Jalalabad cities in the first round.

# ARAZI Registers Over 522,000 Houses in 8 Cities of Afghanistan

The Afghanistan Land Authority - ARAZ has accelerated the survey of informal urban areas, and so far 522,081 houses have been registered through the Programme for Registration of Urban Informal Settlement (PRUIS) in eight cites of Afghanistan.

Out of the total, 303,417 houses have been surveyed and registered in Kabul, 64,000 houses in Herat, 70,797 house in Mazar-e-Sharif, 34,600 houses in Kandahar, 17,912 houses in Jalalabad, 12,014 houses in Farah, 12,346 houses in Bamyan and 6,995 houses in Nili city in recent months.

The Programme for Registration of Urban Informal Settlement (PRUIS) ensures protection of houses that locate in urban informal areas by providing occupancy certificates in the targeted areas.

# Clearance of Over 2,400 Jeribs of Land in Bamyan

The Afghanistan Land Authority – ARAZI has recently cleared up over 2,455 jeribs of state-owned land in Bamyan province.

The land has been transferred for Bamyan municipality while the ARAZI has cleared up 1,208,432 jeribs of land since the beginning of 1392, solar year across the country.

Out of the total, 1,195,896 jeribs of the land is state-owned and rest of 12,536 jeribs is private.

# Over 1,700 Jeribs of State Land Restituted in Nimruz

The Afghanistan Land Authority – ARAZI has recently restituted 1,702 jeribs (340 hectares) of state-owned land in Chataki village of Zaranj, the provincial capital of southwestern Nimruz province.

The land, usurped by local powerful individuals and land grabbers for several years, has been restituted in cooperation with the provincial security forces in the province.

Even though 1,6m jeribs of land is still under control of usurpers, however, the Afghanistan Land Authority is committed to restitute state grabbed land and provide opportunities for Afghan government entities to utilize them for socio-economics and development projects.

# ARAZI News

## Registration of 5,243 Houses Accomplished in Kandahar and Jalalabad Cities



The Afghanistan Land Authority – ARAZI has recently registered 5,243 houses through the Programme for Registration of Urban Informal Settlement (PRUIS) in Kandahar and Jalalabad cities.

However, ARAZI is determined to survey and register 500,000 houses in eight cities, including Kabul, Herat, Mazar-e-Sharif, Nili, Bamyan, Jalalabad, Farah and Kandahar by 2020.

The purpose of the survey and registration is to secure the properties of the compatriots in informal urban areas and turn their properties into capital and provide better livelihood opportunities.

The Program for Registration of Urban Informal Settlements (PRUIS) is one of the main programs of the Afghanistan Land Authority aimed at surveying and registering of houses and providing occupancy certificates to the residents of the informal urban areas.




اراضی
Afghanistan Land Authority
د افغانستان د ځمکو اداره
اداره اراضی افغانستان

IDPL

Land Bank
State Land Bank

PRUIS

ALPIS
Afghanistan Land Pricing Information System

پالیسی ملی زمین

- www.arazi.gov.af
- ceo@arazi.gov.af
- info@arazi.gov.af
- 1012@arazi.gov.af
- media@arazi.gov.af
- land-water-sec@arazi.gov.af
- www.twitter.com/arazi
- www.facebook.com/arazi
- www.flickr.com/arazi
- www.youtube.com/arazi

ټولنیز او اقتصادي ودې او چاپیریال ساتنې ته ژمن!
متعهد به رشد اجتماعی، اقتصادی و حفاظت از محیط زیست!
Committed to Social & Economic Growth and Environmental Protection!

اراضی

Afghanistan Land Authority

د افغانستان د ځمکو اداره

اداره اراضی افغانستان

# ARAZI

## Monthly Magazine

Issue No. 8, Oct - Nov 2018



“H.E Mohammad Ashraf Ghani, the President of Islamic Republic of Afghanistan has inaugurated distribution of Occupancy Certificates to the residents of Urban Informal Areas in Bamyan and Nili Cities.”